火红的年代	د اور په شان روښانه کلونه/
火鸡，吐绶鸡	پيل مرغ/
火箭	توغندی /راکټ/

火箭发射基地	د راکټ د توغولو اډه/
火箭炮	د راکټ توپ/
火炬传递	د سپیځلي مشال لېږدولو فعالیت/
火力	انداختی/ډله ایزې ډزې/
火炉	نغری/
火苗	لمبه/
火器（枪炮）	ناریه اسلحه/
火星，火花	شرر/
火焰发射器	اتش افشان/
火药	باروت/
火灾	اورلګېدنه/
伙伴关系	د همکارانو په حیث روابط/
或，或者，或是	که/
或多或少	په لږ یا ډېر/
货币政策	پولي سیاست/
货车	بارونکی موټر/
货架，展柜，展厅	غرفه/
货篷	اتې/
货物	مال/بار/
获得	دا ویاړ د چا په نصیب شو/ ملي ارشیف ته نړیوالې پیژندګلوي او پاملرنه ورپه برخه شوه/ حصول/
获得第一名（冠军）	لومړی مقام نیول/ د ۱۲ګروپونو له ډلې څخه لومړی نمبر شوی دی/
获得机会	چا ته ښه فرصت په لاس ورکوي چې.../ د بریالیتوب ویاړ په برخه دي/
获得胜利，取得成功	کامیابېدل (کامیابېږی، کامیاب شو) /بریالیتوب ترلاسه کول/
获得团体赛冠军	ډله ایزه اتلوالی ترلاسه کول/
获奖者	د جایزې ګټونکی/
获利	له نړیوالو مرستو څخه یوازې همدغو کسانو د ځان لپاره ګټه پورته کړې ده، د خلکو په ژوند کې هیڅ مثبت توپیر نه دی راغلی/
获胜	د ۲په مقابل د ۷ نمبرو په ګټلو سره بریالی کېدل/ لوبه وړل/میدان وړل/ګټل/په...بریالی کېدل/په...باندې غالب کېدل/ زه په مسابقه کې غالب ګرځیدلی یم/ همدا پر اسراییلو د برلاسي راز ګټلای شی/
获悉	خبر اخیستل/ په ژوړې خواشینۍ سره خبر شوم چې/
获准许的，清真的	حلال/
祸不单行	له باران نه لاړ، ناوې ته کیناست/ وانبکی پر نری ځای شلېږي /(متل) ډېره د یتیم پر سر لوبیږي/ خیرات په ورځ د غریب سړی غوا ورک کېږي/ خبره له خبرې ولاړېږي (متل) /
祸害的根源	د بنځې وجود د نړۍ د بحران او نړیوالو لویه منشا او سبب دی/
霍乱	کلرا /جپالی/
和泥，搅拌	د خاورې خیشتول د نارینه وو کار دی/

ji	
讥讽，讥笑	تمسخر/ملنډې: د چا په غياب کې ورپسې ټوکې او ملنډې کوی /
击败	ته ماتي ورکول /
击沉	د امريکې يوه بېړۍ د ويتنام سواحلو ته نژدی د هغه هېواد د ساحلي بېړيو په واسطه ډوبه کړی شوه / جنګي بېړۍ ډوبول /
击打	ديوال په سوکانو ولی/
击毁军车	د نظامي عرادی ويجاړول/
击剑	شمشېر بازی/
击溃	تېت وپرک کول/ تارپه تار کول/
击落敌机	د دښمن الوتکه غورځول(سقوط کول) /
击猛拳	يو سوک په شا ورکول/ يو سوک په شا وهل/ مخې نه پورې وهل/
击伤	زيان من کول / تاوان اوښتل/ ژوبلول/تپي کول/
击退	هغه عسکري ټولګيو ته امر ورکړی دی چې په ټولو قواوو او ټينګار د دښمن حملی تر شا ووهي/ حملې شنډې کړي/ دغه حمله د اسرائيلي پوځونو له خوا شا ته تمبول شوې ده/ هغوی يې شا ته تمبولی دي / په شا وتمبل/ د... پوځونه يې په شا تلو ته مجبور کړی دی/ ترشا وهل/
击中	نښه ويشتل/مردک په هدف و نښت/نښتل لګېدل/ احمد په يو بوتل وويشتل شو او په ځمکه پريوت/ د اورپکو يو پټن ځاي په نښه شوی دی/ نښه شوی کور/ يو هليکوپتر د ...له خوا په ګولې ويشتل شوی او راغورځول شوی دی/ دغه ډول توغندی هدف په نښه کولی شی/ اسراييلو يو شمير کورونه په نښه کړي دي /
饥饿	لوږې/
饥饿半饥饿	ټول وګړي په ربښته او منځني ولږه اخته دي/
饥饿的，挨饿的	وږی/
饥寒交迫	د سړو وهلو او لوږې په حال کې پاتې و/ سړو وهلی او وږی ژوند / د بربنډې او لوږې په حال کې غمجن ژوند يې تېراوه/
饥荒	لوږه /قحطی/
机场跑道	د هوايي ميدان ليکه/
机床，车床，机关	دستګاه/ ماشين/
机电排灌面积	د برقي او نورو ماشينونو په وسيله د اوبو لګولو او اوبو راايستلو ساحه زياته شوه/
机动车辆税	موتوری عراده جاتو مالیه لګول کېږي/
机动车辆通行许可	د موتوری عرادو جواز سير/
机耕面积	د ماشين په وسله د کرنې ساحه / په هغو ځمکو کې ماشينی يوې عملي شوې ده/ د هغو ځمکو مساحت چې د ماشينونو په وسيله يوې کرل کېږي /
机构	مؤسسه/ سازمان، حکومت د يې ځايه او اضاخې تشکيل او ځانګو موجوديت له منځه وړي/ د راډيو اداري تشکيل او جوړښت هم تر نوی نظر لاندې ونيول شول/
机构改革	د راډيو په تشکيلاتو کې هم نوښت راغی/
机关	پارلمان د اداري او تشکيلاتي خظره د بل هېڅ دستګاه تابعيت نه لري/
机关改革	هغه به د حکومت په دستګاو کې د اداري اصلاحاتو اعلاميه خپره کړي/

机关干部	د مربوطو ادارو کادران/
机关枪	ماشین ګن/
机会	غواړم چې د دې فرصت برابر کړم چې تاسی زمونږ د فیصلې په باره کې قضاوت وکړئ/ زمونږ ډېر ښه چانس یې ورپیا له لاسه ورکړ/ فرصت لاس ته راغی چې ځینو سیمو ته سفر وکړم/
机会主义	اپارتیونیزم/
机会主义的	اپارتونستی/
机井	ماشینی څا (څاګانی) /
机器操作人员	ماشین چلوونکی/
机器人	ماشینی انسان /ماشینی ادم/
机械化	که چیری کرنه پرون په ډیر ابتدایي شکل وه.مګر نن ورځ یې دنیا په متمدنو هیوادو کې د میکانیزی شکل نیولی دی/ میکانیزه کول/ ماشینی کول/ د غلودانو په برابرولو کې ماشیني او نیم ماشیني چارې تر سره کېږي/
机械化设备	تخنیکي وسایل او تجهیزات نسبنا پوره دی/
机械照搬	په میخانیکی ډول رانقلول/
机智，机敏	ځیرکی/
机智的，机敏的	ځیرک/
机组	د ماشینونو لومړی برخه یې په کار ولو بدله/
肌肉注射	د مټ په غوښو کې یا تر پوستکي لاندې ستن لګول/
肌体	اندام/ انساني عضویت(غړی توب) /
鸡	چرګ / چرګه/
鸡的鸣鸣叫，司晨	بانګ/
鸡冠花	تاج عروس/
鸡奸	هلکفودی/ لواطت/
鸡叫不等于天明	لمر د چرګ له اذان نه پرته هم راخیژي/
鸡犬之声相闻，老死不相往来	سره له دې چې د خپلو چرګانو آوازونه او د سپیو غپا اوري،بیا هم په خپل ټول عمرکې تګ راتګ سره نه کوي/
迹象	له ځینو نښونښانو څخه څرګندېږي چې..../ ویل کېږي چې سرله اوسه د نوي پولي بحران نښې لیدل شوی دي/ د چا او چا ترمنځ د تړاو څه څرک و نه لګید/
积极的	فعال/ مثبت/ حکومت یو رغنده بدلون او اوښتون راولي/
积极分子	فعال عناصر/
积极性	شوق او جذبات/ د ولسونو په منځ کې شوق اوحرارت پټ موجود دی/ د خلکو ابتکاري او خلاقه انرژي په کارول/
积极作用	کارند رول/
积雪	هغه ورځ هوا ډېره سړه وه، هره خوا کوتلې کوتلې واوري پرتې وي/
积压，堆满，储存	انبار/
基本单位	اساسی یونټ/ اساسي واحد/
基本的，基础的	بنسټیز /اساسی/
基本建设	اساسي ساختماني چارې/

基本口粮	کافی جیره/پوره جیره/
基本人权	بشري اساسي حقوق /
基本义务	اساسي وظیفه/
基层干部	د اساسی درجو او تشکیلاتو کادران/
基础	بنسټ/ بنا/ تهداب/آر/ اصلي سته ده/ تاداو/
基础设施	بنسټیز جوړښتونه : مونږ باید د کرنې د ویجاړو شویو بسټیزو جوړښتونو رغاونې ته د لومړیتوب حق ورکړو/
基地组织	القاعده/
基督教民主党	د المان د مسیحی د یموکرات ګوند/
基于，按照…	په...بنا/
畸形发展	هغوی غوښتل چې زمونږ د صنایعو د عجیب اوحیرانونکی پرمختګ له لارې خپل مقصد ترسره کړي / بې تناسبه اقتصاد/په بې تناسبه توګه/
激动	دغه قصې اوس هم ډیر زړونه په جوس او مستی راوستلای شي / ده په ذوق سره وویل/ په خوښی او ذوق سره ویل/ هغه په لړزه ونکی خوښی وایي چې/ احساساتی/ هیجان ښونکی/ داسي جوش او هیجان و چې د هر چا په سترګو کې د افغاني غیرت اوښکې ولاړې وې./
激发	خلک یې نور هم راواوچت کړل/
激发积极性	د برښنا د چارو په اجراکولو کې د پراخو ولسونو احساسات لا پسې په شوق راغلي دي /
激光	د لایزر وړانګه/
激进，刺激	خشونت د مقابل لوري د ریځ رادیکالیزه کوي / مونږ د نورو ډېرو لوړو رادیکال کتابونو په لوستلو او د خپل افق په پراخولو بوخت وو. /
激烈	د هنداوچین جګړو شدت موندلی دی/ په انتخاباتو کې سیالي شدت ته رسیدلې ده./ کله به دغه مجادله لاشدت ونیسي / جګړه په شدت روانه ده. / جګړو زور واخیست ،نو .../ تیز/
激起	د خوراکي موادو د نرخونو په زیاتولو کې د دولت بې احتیاطي په هر وخت کې د دې لپاره کافي ده چې د کوروالا ښځو عصبیت وپاروي / یو کار که د کومې الې ګولې سبب نه شی، عصبیتونه خو به زیات کړي/ په ټولې نړۍ کې عمومی کرکه راپارول/
激情	په شعري ټولګي کې د ده جزبات او احساسات د قلم په ژبه وینو /
激战	شدیده جګړه/سخته نښته/ جګړه شپه او ورځ توده وه /
及时地	په موقع یې سندونه خپاره کړل / دغه اقدام ښه پر وخت برابر کار دی/ په خپل وخت معالجه کول/
吉利的，幸福的	مبارک/
吉隆坡	کولالمپور/
吉祥物	د اولمپیک بختوره نښه /
岌岌可危摇摇欲坠	حکومت له مخالفې سره مخامخ دی/ځوک چې د تباهی غاړې ته نژدې شوی دی/
汲取，吸取教训	له...څخه درس اخیستل / له ترخو تجربو څخه یې پند او عبرت نه دی اخیستی/
级	کچه / درجه / مرتبه(مراتب): هغه لارښوونکي ارګانونه چې ډیلې ډیلې درجې لري /
即使	چا ته واک ورکړی شو چې شکمن ترهګر ... ته راوستلای شی ،ان که د شکمن ترهګر کورېه هېواد د نوموړي ترهګر په لېږلو راضي هم نه وي/ که هر څومره مهم شخصیت هم وي ، پر ټول ولس باندې د لارې بندونه غیرمعقول خبره ده/ټول ایران را ته په یوه افغانی هم راکوی،

	زه به بيا لاړ نه شم/که له خواريه مړه هم شم ، نور نو ستا دا د بې شرافتۍ خبرې اوريداي نه شم /
极不平凡的	فوق العاده او بې ساری،بالکل غیرعادی/
极大愤慨	د چين خلک د دغه تجاوزکارانه عمل په مقابل کې خپله زياته کرکه او نفرت څرګندوي /
极地	قطبی سیمه/
极端保守分子	افراطی محافظه کار/
极端的，狭隘的	تندلاری دريځ / سخته دريځه پښې/ د احمد راپور دغه دواړه افراط او تفريط ته اشاره کوي چې د جګړې څخه مخ کې امريکې د تجرد او بې تفاوتی وضع نيولی وه او د جګړې څخه وروسته د نړيوالو پوليسو وظيفه/ښی اړخ ته متمايل افراطيون بريالی شوی دی/
极端分子	افراطی عناصر/تندلار/ د ښی لاس او کينې لاس افراطيون/ جدايي غوښتونکو اورپکو څو تنه کليوال ووژل/
极端民主化	افراطي ديموکراسي/
极端民族主义	افراطي نيشنلستي عناصر/
极端贫困，贫穷，赤贫	فقيري/
极其热忱	ډېر زيات تاوده احساسات/
极为可能	په غالت احتمال چې اوس به يې د چا مرسته منلی وي/
极有兴趣地	په ډېره دلچسپۍ/
亟待解决	هغه مسئله چې حليدل بې فوری ضرورت ايجابوی/
亟待考虑	عاجل غور کول/
急促地,	په کوټه کې چالاک چالاک ګرزي / په دفتر کې تيز تيز چکر وهي /
急救	عاجل پانسمان او تداوی/لومړی امداد/
急救站	د لومړی امداد مرکز/
急剧地	د وجود وزن په شدت سره زياتېږي/
急流	د سيند ګړندی او شرندې اوبه په ډيره منډه تيرېدې /
急流飞溅	د سيند مستې څپې په ډيره بې پاکې يوه دوه نيزې پورته جګېدلې او بيا بيرته د سترو نځاګرو په څير خورې وړې لوېدلې/
急忙，匆忙，快速的	تلوار/ شتاب/ بيړه/
急速	ټانک په ډېرې تيزۍ سره له دې ګڼې ګونې تېر شو /
急先锋	عملا هيڅ صلاحيت نه لری او مخه يې همدغه وزارت ډب کړې./
急性病	د عاجلې او تلوار ناروغي/ سادات وويل چې هغه بايد له عجلې څخه کار وانخلي/
急躁	تندی: د تندی ناجوړی/په تندی سره/
急诊室	د عاجلو ناروغيو خونه/ د عاجلو ناروغانو کوټه/
疾病防治	د ناروغۍ وقايه او علاج/
疾苦,	د ولس کړيدا او رنځيدا د چا د سر په سترګو ولیده/
集	د څلوريځو خپره شوې ټولګه چاپ شوې ده/
集成电路电子计算机	د بشپړ جريان لوی الکترونيکي کمپيوتر چې په يوه ثانيه کې يو مليون حسابي عمليات سر ته رسولی شي. /
集合，聚集，集中	ټولېدل/

集会	محفل/ د ساز محفل/ د افغانستان اتباع حق لري چې بې وسلې ټولنه وکاندی/
集结	د قبرس حکومت د لیمازون په حوزه کې د م م د پولیسي قواوو له متمرکز کولو سره موافقه نه کوي/ د نظامي قواوو غونډېدل/ د نظامي قواوو تجمع/ افغانی اجیران افغانستان پولو ته څېرمه راپنډ کړي دي./
集市	د پکتیا په ولایت کې هم د جمعې ورځ د بازار د ورځې په نامه یاد ېږي/ پرون د بغلان په بنار کې د بازار ورځ وه./
集体储蓄	ډله ایز پس انداز/ د یوې ډلې خلکو پس انداز/
集体创作	شعر یې د ګډو مصقانو له خوا نوی نظر شوی دی./
集体的	د ویالو او لارو جوړولو کار په ټولو اړه لري او ټول باید په ډله ایزه ټوګه په کې کار وکړي / په دسته جمعی ډول قیام کول /کولکتیف/ اشتراکي اقتصاد/ ډله ایز/
集体福利事业	کلکتیف خیریه چارې/
集体技巧	اکروباتیکي جمناستیک/
集体力量	کلکتیف قوت/
集体领导	ګډه لارښوونه/
集体智慧	کلکتیف عقل /د یوې ډلې خلکو پوهه/
集体主义	کلکتیزم/
集团	په هېڅ وجه به د سیاسي ګوندونو او مخالفو ډلو ټیلو له لارې څخه د نومورو هېوادونو په اوضاعو کې مداخله ونه کړي / دا د کورنیو کړیو لپاره یو څرګند خبر داری دی/ بهرنی کړی/
集中	زمونږ مجادله هم د یوی موضوع مرکز راګرځي او هغه دا چې... / واک یوازې د دولت رئیس متمرکز دی/ په پښتنو کې د مرکزیت او سنترالیزم روحیه کمزوری کوي/ قواوې راغونډول/ دوی داسې طریقه غوره کړه چې د مهمو او غټو قوو د تمرکز په صورت کې خپل کار سر ته ورسوي/
集中营	د تمرکز کمپ/ متمرکز کمپ/ د راغونډولو کمپ/
集装箱，货柜	کانتینر/
集装箱船	کانتینر وړونکې بیړۍ/
嫉妒	هغه حسادت لري/ د هر رخه لرونکی په مغزو کې که نارینه وي او که ښځه د مینتوب زړی ریښه زغلولی ده. هرې پیغلی ته دلیلی په ښایښت رخه راتله/ هغې راته په زړه کې د حسد له لارې دا خبره واچوله/ حسدناکه پېغله/ هغوی له اټومي بمونو څخه سترګې نه سوځی / احمد د کینې او حسد ډګر ته دانګی/
瘠薄	مځکه یې بې حاصله او وچه/
籍贯	څو دقیقې وروسته میرزا راغي او د ټولو نومونو د اصلي ټاټوبې پته یې ولیکله/ ویغورتبری بندیان/
几，几个，一些	یو څو/
几个	هلته ګڼې وڼې وی....یو نیم کور پکې ښکاربده/ ما ته ډېرې رانژدې وی،ټولو ولیدم او یوې نیمې لا وخندل/کله کله به یې یوه نیمه اوښکه هم له سترګو نه را توی شوه./
几何级数	د نړۍ وګړي په هندسي تصاعد زیاتېږي او په هرو ۲۵ کلونو کې دوه چنده کېږي/
几乎	په زاړه چین کې د ماشین جوړولو صنعت تقریبا هېڅ نه و./ نژدې و چې.../
挤进	خوشی زیار یې وایست چې د کتونکی په حیث په زور سره غیر منسلک کانفرانس ته داخل

	شي/
挤奶	لوشل: احمد د وزې په لوشلو کې له محمد سره مرسته کوي/ غواګاتې تل ښځې لوشي/ دوی له هرې مېرې څخه فقط یو څو دارې لوشي/
脊髓炎	د هډوکی دماغزو التهاب/
脊椎	فقره ستون/
计划，打算	نخچه/ نقشه /پلان/
计划好的，预定的	احمد له چا سره په هغه غونډه کې خبرې وکړې چې تر مخه پلان کړی شوې وه/
计划生育	د پلان له مخې ولادت/
计较个人利益	په شخصي شهرت او ګټې پسې ګرځېدل/
计谋	خدعه (په جنګ کې د ښمن غولوي) /جنګي تدبير/حربي خدعه/
计算	حسابېدل/
计算，算帐，算术	حساب/
计算机	دغه کمپیوتر تر اته عددو پورې صحیح او اته اعشاری رقم پورې ښودلی شی/
记得	که ګرانو لوستونکو ته په زړه وی ،مایو لږمسائل رامنځ ته کړی وو... / ستا په یاد دی چې.../ ستاسو به طبعاً دا په زړه وی چې... /ښه مې په یاد دی چې.../ زما هغه ورځې هم یاد دي/ د چا رول تر اوسه خلک یادوي / دا مې په یاد نه ده چې.../
记功状	د خد متونو تقدیر نامه، د خدمت تقدیر نامه/
记号，信号，指出	اشاره/
记录	دغه متن د احمد د یادداشتونو له مخې تهیه شوی دی/
记熟，记住，回想	یاد: یادول/ په یاد کول/
记性	هغه قوي حافظه لري/ د هغه حافظه ډېره ضعیفه ده/ دوی ښه ذهن او یاداشت لري/ ذهن او حافظه ژوندی قاموسونه دي/ ذهین والی/
记忆	زما حافظه په دې باب کې ما ته ډاډ نه راکوي/ ستا خبره مې له حافظې څخه وتلې ده/ د چا یادونه له خپل زړه او ذهن څخه نه لیرې کوي/ د پلار په هکله ډېر لږ په زړه لرم / احمد د قوي حافظې خاوند دی/
记载	له تاریخي متنونو سره سم/
记在心	احمد د چا خبرو ته په زړه کې ځای ورکړ/
记者	خبریال/ ژورنالست/
记者会	مطبوعاتي ناسته/ مطبوعاتي مرکه/مطبوعاتي کنفرانس/
记住	یو شی په مغز کې ساتل/ دا عنوانونه ووایه او په یاد یې لره ! / په یاد ولرې چې.../ په زړه پورې حقایق او موضوعات تل په حافظه او خاطرو کې پاتې کېږي / خو دا دی ستاسې په یادوي چې... / زه به دغه خبرې په یاد کړم/ هلک د خپل پلار نصیحت په غوږ کې ونیو / دا خبره همیشه په یاد کې وساتی چې.../ دلته به له یاده نه باسو چې... /
纪录片	اسنادي فلم/ مستند اخباری فلم/مستند فلم/
纪律	انضباط/ دسپلین/
纪律处分	دوه تنه نور د ملازمت د تعطیل او په تادیې جزاګانو محکوم شول/
纪年	د کلیزې مبدا/
纪念	د چا د یادونې غونډه د جنورۍ په دریمه هفته کې جوړه شوې وه/ په یاد یې سره راغونډېږي، په یاد یې غونډه جوړوي/

纪念碑	د شهیدانو څلی/د یادګار څلی / منار/ یادګاري څلی/
纪念大会	د چا د پنځم تلین د یاد غونډه /
纪念堂	د ماو څه دونګ یادونځی/
妓女	فاحشه/
忌酒	د دوی لپاره چې د وینې فشار نور مال او عادي شکل اختیار کړی، الکلی مشروبات باید په کلکه پرهیز وشي /
技工，技师	میخانیک/
技能，才干，才能	لیاقت/توان/وس/
技能，技艺，本事	مهارت/
技术	تکنالوژي/ تخنیک/
技术革新	تخنیکي اصلاحات/ د هغې سیمې زلمیان کولی شی چې د خپلې سیمې په تکنالوژۍ کې مهم تحولات راولي /
技术和资金支持	تخنیکي او مالي مرسته/
技术转让	د تکنالوژۍ تبدیل/
技艺，手艺，工业	صنعت/
季，季节	موسم/فصل/ د کال په دریمه ربعه کې/ د کال لومړی څلورمه /
季节性的	موسمي /
既得利益	قاطع ګټې / ثابتې ګټې /
既无内债有无外债	چین هم د هېواد په دننه کې او هم له هیواد نه دباندې له پورونو څخه خلاص دی/ نه مو خارجي او نه مو داخلي پورونه اخستي دي/
继承	زمونږ زوی عقل،شعور او معرفت له ما څخه په میراث وړی دی/ دغو کسانو ته د زړو استعمارچیانو توره پرده په میرات رسیدلې/ د استعداد اصلي منبع او سرچینه وراثت دی/ دغه استعداد له وراثت څخه بولي/ د... په لاره پسې تلل/
继承的，遗传的，世袭的	دغه وړتیا او توانایی له پلار څخه زوي ته نقل کېږي/
继承法	له چا څخه په میراث اخیستل / چا ته په میراث رسېدل/
继承人	د... په لاره تلونکی/ د چا میراث خور/ میراث اخیستونکي / وارث/
继承遗产	د چا څخه یو شی په میراث وړل/
继续	انسان د بې وزلۍ په حالت کې تر کومې اندازې کار او فعالیت ته ادامه ورکولی شي؟ / دوام ورکول/ جاري ساتل/ دوام لرل/
寄存处	د خدمتونو څانګه/
寄放，存放	ورته وي ویل چې خپل نقدی پیسی او نور فلزی شیان دې که ورځخه دی، په امانتی مالونو کې پرېږدي او نه دې وي ورسره/
寄钱，汇款	چا کیسه کوله چې له لندن کوم ځوان خپل پلار ته د دوو لکو حواله لېږلې وه، هغه چې حواله ترلاسه کړه/
寄生虫	مفت خور / دګډۍ چینچی/طوخیل/ پرازیتي ناروغي/
寄生虫生活	ستا په خیال هغه باید له داسې پرازیت سره د ژوند تر پایه پورې اوسیدلی وی؟ / پرازیتي ژوند/
寄生的	پرازیتي/

寄生的（虫）	امپریالیزم طفیلی کاپیتالیزم دی/
寄售	هندی مقاماتو د کنسایمنت په ډول د افغانی وچې مېوې واردول منځ کړی دی/
寄托希望	هغوی خپلې اسرې د چین د خلکو د دریم یا ځلورم نسل په سوله ایز تدریجی بدلون پوری ترلی دی/ زمونږ اسرې په تاسی پورې ترلی دی/ هیلې یې په مورږ پورې ترلې دي/ ولسمشر د ټولنې نیکمرغی په وطن پرستو ځوانانو ترلې بولي/
寄信	احمد له پاکستان څخه د نیویارک ورځپانو ته لیکونه پوست کړل او پکې یې... اعلان کړ/
寄信人，寄件人	مرسل/لېږونکی/
祭祀	په همدغه ځای کې به حکمدارانو د خپلو معابدانو لپاره د قربانی مراسم اجرا کړل/
jia	
加班费，夜班费	تر وخت وروسته معاش/ اضافه معاش/ شبکاري/
加班加点	کله چې تقاضا موجوده وي، نو زمونږ کار زیاتېږي او کارګرو ته د اضافي کاری زمینه برابرېږي او زیاته حق الزحمه ورکول کېږي/ اوس اضافي کاري په هفته کې له ۴۵ ساعتونه زیاتېدای نشی/
加大	غټول/
加法	جمع: پنځه جمع یو له شپږ سره برابر دی/ د دې جمع نتیجه څلور ده/
加工	غله چمتو کول/ تیار شوی غله هغه اومه مواد چې د جوړښت هېڅ مرحله یې نه وی طی کړی/ د ببلا ببلو مرحلو له طی کولو نه وروسته بشپړول/ د غوښو د چمتو کولو فابریکه/ د غلو برابرولو فابریکه/ د غلو د ترتیبولو فابریکه/ پروسیس/
加工，农副产品加工厂	د زراعتي محصولاتو او فرعي چارو پیدا وارو د تکمیلولو فابریکه/
加工贸易	د پروسس تجارت/
加护食堂	د پرهیزاني خوړنځی/
加减	د جمع او تفریق عملیې اجرا کول/
加减乘除	دغه دستګاه کولی شي چې څلور واړه جمع، تفریق، ضرب او تقسیم سر ته ورسوي/
加紧扩张	د پراختیا غوښتنې سیاست شدیدول/
加剧	دا به د دواړو هېوادونو ترمنځ خړپړ روابط خراب کړی دی/ دا کار د منځني ختیځ د خړو پړو اوضاعو د لاشدت سبب ګرځېدلی دی/ دا لایحه به د منځنی ختیځ خړپړتیا نوره هم شدیده کړي/ دغې ګډوډۍ هغه وخت زور وموند چې.../ همدا چلند د جګړه مارو ډلو د جرئت او قوت عامل شوی چې په ډاډمن زړه نورو تیرو او وحشت ته پونده ورکړي/
加快	ګړندی کول/ بلکې ګامونه یې تر دې هم چابک وو./ دښمنان د کورنیو ګوداګیانو په وسیله د افغانستان د تباهی پروسه پرمخ بیایي/ د کرنې د عصري کېدو بهیر چټکتیا/
加宽	په بیخ کې پلنوالی راوستل/بیخ پلنول/
加勒比海	کاربین سمندر/
加强	پیاوړتیا/ تقویه کول/زور اچول: د سکرو د کانونو ادارو د خپلو لاربنودنو په برخه کې زور واچاوه/ خپلې لاربنودنې تقویه کول/ خپل هدایات زیات موثر کول/ خپله لاربنودنه یې نوره هم زیاته کړې ده/
加强团	د مرکز د قول اردو د اتمې فرقې میکانیزه تقویه شوی غوندې/
加入	شاملول/
加沙地带	د غزې ترانګه یا تراوه/

加深	لاپسې ژور کول/
加速	د دې لپاره چې د اوسپنې او فولادو د شرکت په ابادولو کې چټکتیا منځ ته راشي/ د اروپا په ګډ بازار کې د برتانیې د شاملیدو لپاره چټک ګامونه اخستل شوي دي/ د ازادۍ په مبارزو کې چټکوالی او جدیت راپیدا کول/ په کې ګډیتوب راوستل/ په سوسیالستي ابادۍ کې د قدمونو د چټکولو لپاره/ د ملي دفاع د عصري کېدو جریان د چټکتیا په باب/
加油	هلۍ/زور لګوئ/ چا ته د تشویق او هلې هلې ناري وهل/
加油站	دوی تورستانو ته د هوټلونو ،د ټېلو د مرکزونو ،د موټرونو دورکشاپونو او نورو په باب معلومات ورکوي / د ټېلو ټانک/د ټېلو ورکولو ټانک/ د ټېلو ورکولو مرکز/
加油煮的一种米饭	شوله/
加兹尼（地名）	غزنی/
夹板	جبیره/
枷锁	تر څو چې هغوی د نوی استعمال د یوغ لاندې راولی/ د غلامۍ یوغ په....باندې اینښودل/ خلک له زولنو څخه وژغورل شول چې په پیړیو پیړیو.../ زندۍ = غړوندی / یو ډول قند دی او د اوسپنې یا لرګیو څخه جوړه شوې لومه یا حلقه ده چې د مجرمانو په غاړه اچول کېده /
家，房子，家园	کاشانه/کهول/
家鹅	کورنۍ بته/
家规	اوسني فامیلي قوانین زمانه خوښېږي /
家教	هلته یې د چا د زوي ښوونې او روزنې دنده په غاړه وه /
家具	هغه د خپل کور ټوله اثاثیه په یوه لارۍ بار کړه. /
家破人亡	دولور درنو بارونو ډېرې کورنۍ بربادې کړې او ډېرې نازولې لونې د درانه ولور په مقابل کې له خپلې سیمې او خپلو خپلوانو څخه د تل لپاره بېلې شوې دی./کورنۍ بربادي کېدل/کورنۍ تباه کېدل/
家谱	د ده د کورنۍ سلسله سید علی ته رسېږي /
家禽	کورني مرغان/
家史	د خپلو کورنیو پخوانی تاریخ ژوند /
家庭	کهول / کور کهول /کورني/
家庭暴力	د کورنۍ ظلم او زور/
家庭的，家养的；国内的，内务的	کورني/
家庭妇女	مور مې د کور مېرمن ده /
家庭纠纷	په کورنیو کې تاوتریخوالی /کورنۍ شخړه /
家务，围着炉子转	د خاوند په کور کې سور تنور ګرځي/
家务事	د کور کارونه / د کور د پاکوالي او اخلي پخلي چارې / کورنۍ چارې/
家系，族系，家族，王朝	خاندان /
家喻户晓	هرې کورنۍ ته ښه معلوم دی / په چین کې هره کورنۍ ښه پوهېږي /
家园	پلرنی کور / خپلو کورونو او ځمکو ته ببرته راتلل / خپل کور او کلی ته ببرته راستنېدل / د خپل اجدادی کور بیا نیول / مېنه/

嘉奖（安抚）	ستاینلیک: حکومت فلمي لوبغاړي په نقدي مکافاتو او ستاینلیکونه ونازول /
甲板	د کښتی عرشه/د ببړې برنده/
钾	پوطاسیوم / پتاشیم /
价格，价钱	قیمت/بیه/
价目表	د سیخ کباب د غوښې اندازه مو نه د ښاروالی په نرخنامه کې لیدلې ده او نه مونږ تر اوسه پورې د سیخ کباب د غوښو د اندازه کولو څخه خبر یو. /
价值	د...په معادل/ په دغه بودجه کې د ۸۰۰ملیونو ډالرو په معادل د نوو نظامي وسلو او تجهیزاتو پیرودل هم شامل دي. / د ۱۵ملیون مارکو په معادل د اوږدې مودې کریدتونه غړو هېوادونو ته ورکړل شوی دی. / ارزست/
价值连城	دومره زیات ارزښت لري چې په نړۍ کې یې سیال او ساری نه دی/
驾驶	د موټرونو او تراکتورونو فعالول/موټرونه یې وچلول/ د الوتکې انجن یې چالان کړ./
架	څرخ: د تلویزیون څو څرخه فلمونه/ حلقه هم ورته ویل کیږي لکه سي دي ، دي وي دي /
架，门，台	پایه: یوه پایه ماشین / تلویزیون / کمپیوتر / الماری/
假裁军真扩军	جعلي یې وسلې کول غواړي، خو اصل خپلې وسلې پراخوي. /
假钞	په امریکا کې افغانی تقلبی پیسې چاپېږي؟ / د نویو افغانی جعلي نوټونو د چاپېدو مخه نیول/
假的	مصنوعی او جعلي بیا رغونه/ ساختګي او جعلي توغندی/
假定，假设	د عمر د اوږدوالي په هکله د پورتنیو دریو فرضیو له جملې څخه ۲۰۰۵کلونو عمر ډېر پیچلی او ګران ښکارېږي/ بالفرض /
假发	مصنوعي ویښتان/
假公济私	د خپل رسمي صلاحیت څخه د شخصي چارو د اجرا لپاره کار اخیستل/
假日	هغه د تعطیل په ورځو کې خپل کلیوال ځای ته ځي/ سناتوران د میزان تر ۲۲ نیټې پورې چې له دوبنی رخصتی سره یې سمون خوري ،د دوو میاشتو لپاره دتعطیل له ورځو څخه استفاده کوي / د دوبي په رخصتیو کې ژنیو ته ځي. /
假如...就...	څومره به ښه وای ، که ته هم عربي امیر وای / که ته ورغلی وای ، ښه به و/کاشکی زه ستا په ځای وای /که ما د لب سرین پیسې درلودای ، پرون به مې خپل زوی ته دوا اخیستی وای/
假设	که فرض کړو چې دا کارونه مرکزي اداره کوي ، نو ایا له مرکزي اداري سره دومره توان شته ؟/
假想	فرضي جنګي میدان/
假想敌	تصوری دښمن / فرضی دښمن /
假象	جعلی خاطره منځ ته راوړل/ دا هېڅکله په تقلبی ځیرو سره چې دوی منځ ته راوړی دي ،نه پتېږي/ دروغجن تظاهرات منځ ته راوړل/
假惺惺的，两面派	په ریاکاری سره/ په دوه مخی سره/
假造钞票	جعلی نوټ جوړول/
假装不知道	پس له دی یې ځان ناګاره واچاوه ،خلکو ته یې ځان داسې ښوده چې زه هېڅ خبر نه یم/
嫁给，结婚	پلانکې یو د پاخه عمر سړي ته ودېږي/
嫁接	پتلېز/ مورِ د ګیلاس د نیالولو لپاره وړ پیوندي نیالګي نه لرو/
嫁妆	په هند کې د جهیز ورکولو دود دومره پیاوړی دی چې د بې وزلو نجونو مینډې پلرونه یې پرېښانه کړي دي/

jian	
奸污	عبدالله په زور له هغې سره نامشروع او ناوړه عمل سر ته ورساوه. /
尖锐的	په شديده توګه يې هغو چتې نظريو غندنه وکړه/ د افغانستان موضوع په منځنۍ اسيا کې د ډېر وحادو نظريې سياسي مسائلو څخه شمېرل کېږي / تېز/
坚持	د يوه اصل د پيروی کولو (ياعملی کولو) له لارې/ پر...ټينګار کول/ هوډ کول / د ولسونو د تګ لارې تائيدول / په دې خبره ولی دومره کلکيږي/ خو د پلار ټينګار ته ټينګ نه شو /
坚持就是胜利	کاميابي د استقامت ملګرې ده./
坚持抗战	په مقاومت باندې ټينګار کول/
坚持战斗	جګړه جاري ساتل/
坚定，决心，方向，正派	استقامت/
坚定不移的	ثابت او تغييرنه کوونکی دريځ/ ټينګ او ثابت اصولی دريځ/ دغه دريځ ټينګ او نه بدلېدونکی دی/
坚固的，结实的	محکم/ کلک/
坚决，彻底，全部	په قطعی توګه/ په بشپړ ډول/ په سراسره او پوره توګه /کاملا/
坚决的，果断的	غوځ/
坚决地	په ټينګه سره/
坚强的，坚决的	راسخ/
坚忍不拔	په متانت سره /څوک چې ثبات لري په خپل مقصد بريالی کېږي/
坚如磐石	زمونږ ګوند د مضبوطو ډبرو په شان کلک او ټينګ يووالی لري /
坚信	هغه د فبروری پنځمې ورځې ته په کوم اهميت قايل نه دی/ نوی وزير د هغو کار ته په اهميت قايل دی/ روسان ډاډه و چې د افغانستان د جهادي مقاومت په خپلو کې به هم بريالی شی/
歼敌机	بنکاري الوتکه/
歼灭，击溃	تار په تارول/
歼灭敌人	کاملا ، بيخي او په پوره ډول دښمن له منځه وړل/
歼灭性打击	د خچپچ کولو ګوزارونه/
歼灭性火力	امحاکار اور/
间谍	جاسوس/
间谍飞机	جاسوسي الوتکه/
间谍活动	دی د چا لپاره جاسوسي نه کوي / د غورځنګ پر ضد يې حکومت ته تبليغاتي ځارګري (جاسوسي) کوله/
间隔	که د خوارو د وختونو ترمنځ څلور پنځه ساته فاصله موجوده وي.../
间苗	کوم جوار چې ګڼوی، هغه دوی لالون کوي، يعنی له ګڼو جوارو څخه اضافه جوار راباسی/
间歇	راحتمال لري چې د رقابت کولو په جريان کې يو موقتی څخه منځ ته راشي/
间歇，（乐章）休止	سکوت/
肩，肩膀	اوږه/
肩并肩	خوا په خوا اوږه په اوږه/

肩胛骨	چاری /بیلک/
肩扛式火箭筒	ستینگر توغندی/
肩毯	کوسی /یو ډول کوټ دی چې په اوږو اچول کېږي/
艰苦奋斗	سخت کار کول/ سختې مجادلې یې سر ته ورسولې/
艰苦朴素	په ډېر زیار کار کول او ساده ژوند/د شفت کارکولو او ساده ژوند طرز(سبک)/
艰难	ژوند به ور ته ډېر بدرنګه ښکارېده / د دوي اوسنۍ او راتلونکې مجادله ممکن تر تیرو مجادلو ګرانه ، اوږده او ربړوونکی وي / هغه په ډېر ربړ او مشقت سره یوه پیمانه خرما راوړله /
艰难险阻	مشکلات او موانع لیرې کول/مشکلات او خنډونه بیرته کول/
艰辛	زمانه ترخې او خوږې لرې/ د ژوند لوړ و ځوړ یې لیدلی دی/ درې سوه کاله یې زحمت اویست تر خو برق تولید کړي / د زحمت پایله /
兼任大使	په کابل کې د برازیل غیر مقیم لوی سفیر/
兼听则明，偏信则暗	که دواړو خواوو ته غوږ ونیسي، فکر به دې روښانه نه شي، او که یوازې دیوه لوری خبرې واورې ، په تیاره کې به پاتې شې./
兼职	اوس هم یو شمېر چارواکي په دوه ګونو دندو کې ګمارل شوی دی/ هېڅوک نه شی کولی چې عین وخت په دوو دولتی پوستو کې دنده تر سره کړي /
监督	تر نظارت لاندې راوستل / د نرخونو څارنه /څارل/
监护人	بې له دې چې کوم سرپرست ولرم کولی مې شو چې هر څه وغواړم وي کړم /
监视	تر څارنې لاندې نیول/ د (چا)نظارت د هر حرکت مراقبت کوي / په اردن کې د اوربند څارنه ور په غاړه ده. / شوروی اتحاد په مدیترانه کې د امریکی د شپږم نمبر قوا په باب خپل مراقبت پای ته رسولی دی./
监听电话	د ملي امنیت ایجنسي د شکمنو تیلیفونونو ته د غوږ نیولو امر وکړ./
监狱	زندان/ محبس/ بندی خانه/
缄默的，沉默的	چوپ/
煎熬	په ...کې د غم او نیستۍ شپې ورځې ترخې تېرولې/ خدای تعالی (ج) په اور او سختیو کې ساتلی یوو/ خلک هره ورځ په خپلو هډوکو او پوستکو خوروونکي دردونه ګالي/
减（排）额度	د کمولو حصه/
减产	په زیاتره ولایتو کې غنمو کمښت پیدا کړی دی./
减法	تفریق/
减价	غنم د بازار د نرخ څخه ۵افغانۍ په کمه بیه خلکو ته وړاندې کوي /
减排	د شنو خونو ګازونو د خپراوي اندازې تېټوالی/
减轻农民负担	د بزګرانو له اوږو څخه زیات بارونه کم شي /
减少	کمي/ کمښت/ کموالی/ کمي کول/ کمول/ لږول/
减刑	د جزاګانو تخفیف/
减租	د اجارې کمول/
剪	بیاتی کول/ هلته یې خپلې ښکلې زلفې وتراشلې/
剪彩	روغتون د عامې روغتیا د وزیرې له خوا د پټی په پریکولو سره پرانیستل شو. / فیته پرې کول/قیچی کول/
剪刀	بیاتی/ قیچی /

剪刀差	د صنعتي او زراعتي موادو د نرخونو ترمنځ د اختلاف او نه موازني د کمولو لپاره /
剪枝	هغوی له بڼګرو سره د میوه لرونکو ونو د څړو بولو، دواشیندلو، د کیمیاوی سره د استعمال، د ونو د پیوندلو او ښا خونو د پرېکولو د صحیحو لارو چارو په برخه کې د نژدی څخه مرسته کوي /
检查	معاینه کول/
检查员， 视察员	مفتش(ین) /
检查站	د تلاشۍ پوسته/ پوسته او پاتک (اچول) /
检察长	لوی څارنوال /
检察院	څارنوالي: دوسیې یې د څېړنې لپاره څارنوالي ته استولي دي /
检察官	څارنوال/
检察机关	د څارنوالۍ ارګانونه/د څارنوالۍ د چارو ارګانونه/
检讨	په خپل ګریوان کې کتل یا خپل کریوان ته کتل / خپلو عیبونو او نیمګړتیاوو ته متوجه کېدل /
检疫	قرنطین /
检阅	د فلانی په ملګرتیا د احترام دګارد سلام واخیست / ورپسې جمهور رئیس د تشریفاتی قطعی دګارد د احترام مراسم معاینه کړ / نظامی رسم ګذشت / د تشریفاتي ګارد احترام ومانه یا معاینه کړ او د هغه رسم ګذست یې وکوت./ دوی هم د معاینې په لوڑ باندې ولاړ و./
简单的	د استعداد معلومول په ربنتیا یو اسان کار نه دی / بسیط/ په اسانۍ سره /
简单的，朴素的，愚钝的	ساده/
简单扼要	په اجمالی توګه / لنډ لنډ ور په ګوته کوم /
简短，删节	کتاب له لنډیز وروسته چاپ شوی دی/
简而言之	په لنډه وینا ویلای شو چې... /که په لنډو جملو کې یې واخلو ، داسی ده.../
简历	لنډه پیژندګلوي/
简明扼要	په اجمال او اختصار سره یو څو ټکي څرکندوم/ په لیکنه کې د ویو لنډون او سپما خورا مهمه ده/ هر وینا وال باید په لنډو ټکو کې خپله موخه بیان کړي /
简言之	یعنی خلاصه ده چې پښتو د افغانستان د خلکو ژبه نه ده او نه دا لوی قوم د دې هیواد اوسیدونکي دی/
简要账目	اجمالي حساب/
简易的	هنرمندان داسندې د موسیقی په ډیرو بسیطو الاتو سره تمثیلوي/ د فلمونو دوبلاژ اسانه اوبسیط کار نه دی./ دا سړک هم په ډیره سادګۍ سره جوړ شوی دی./
简政	ساده اداره/
简装	په عادی شکل چاپول/
碱地	شوره ناکی مځکه/
碱性的	تولې اسیدي کورې په قلوی کورو بدلی شوی/
见不得人	له سپینې ورځې څخه ډارېدل/ په سپینه ورځ کې ویرېدل/
见到	څو اوونۍ مخکې مو په کې سره وکتل / احمد محمود وکوت /

见鬼	له خوبه راغورځي او چيغي وايي: لعنت ! لعنت !/اه !لعنت پر شيطان !/
见死不救	هغوی به له مونږ څخه شکایت وکړی چې مونږ یې له پوښنا کېدو څخه د نجات لپاره هیڅ نه کوو/
见证人	شاهد: مونږ د ټولنې د دغې مهمې او حیاتی برخې د بیا جوړولو شاهدان یو/
建交积极	د دواړو هیوادو تر منځ د لوی سفیرانو په سویه د روابط د ټینګیدو په باب یوه ګډه ابلاغیه خپره شوه/
建立	همداوس عمومی بې وسلې کوي او د ملی اردو جوړولو د دولت د پاملرنې وړ ګرځېدلی دی/ مونږ د نوي نظام د جوړولو لاره غوره کړې ده/ قایمېدل/ ایجادېدل/ نن ورځ د نړۍ نیکمرغي په کار باندې ولاړه ده/
建立国际机制	د نړیوال میکانیزم جوړول/
建立联系	تعلق له...سره ټینګول/
建立相互信任	متقابل اعتماد ایجاد کېدل/
建设	جوړونه/آبادي/ مملکت ودانول/جوړول/
建设的	ساختماني/ تعمیراتی/ودانیز/
建设性的	دغې ټولې خبرې اترې په ډاګه وشوی او د دقت، صمیمیت او مثبتوالی له نظره اهمیت لري/ د یوې تعمیری او د وستانه روحیی او نظریی په رڼا کې/ د امنیت شورا دغه رغنده او غوڅه پریکړه د ستاینې وړ بولي/ د قانون د مسودی په باب رغنده او جوړونکی وړاندیزونه لوي جرګې ته لېږدول/ رغنده او جوړونکی وړاندیزونه/
建设者，基建工人	جوړونکی/ ودانوونکی/
建议	وړاندیز/ پیشنهاد/
建筑，建筑材料	ور څخه غوښتنه کوی چې تعمیراتی مسالح لکه خټې، خاورې، شګې، اهاک، خښتې، ډبرې په عامو لارو باندې وا نه چوي/ داورګا دی د ستېشن عمومي ساختماني ساحه/
建筑，建造	ودانول(ودان یی کړ)/جوړول/
建筑材料	ساختماني مواد/
建筑公司	ودانیز شرکت/
建筑木材	عمارتی لرګی/
建筑物，大楼	ودانې/ عمارت/
建筑业	د عمراني چارو صنائع/
剑拔弩张	او په یو بل پسې یې توره او توپک راواخیستل/
健康，正常	سالمیت/
健康的，健全的，完善的	سالم/ روغ/ جوړ/
健康的身体	سالم وجود/
健康发展	سالم انکشاف/
健康状况	صحی وضع (احوال)/
健忘	سربدال/ زه هیرجن یم/
健忘症	هېره/ نسیان/
舰队	د امریکا د مخربو شپږمه نمره بحریه له ابنا څخه تېره او تورې بحیرې ته به ننوځی./

践踏	پایمالول(یو شی په پښو ښورول) / وانښه مې پایمال کړل/ ژوند یې پایمال شو/د هر ملکونه یې پایمال کړل/ هغوی دا اصل تر پښو لاندې کړی دی/ دا د سوله ایز جریان د پایمالولو معنی لري/ د چا عزت تر پښو لاندې کول / پایمالول/ وانښه یې پایمال کړل/
鉴定	قضاوت کول/
鉴赏，审美力	د ښې سلیقې له مخې/
鉴于	څرنګه چې ټول انسانان په یوه ټولنیز چاپېریال کې هستوګنه کوی ، نو.../ نظر د هندی مقاماتو دې چال چلند ته پاکستان تصمیم نیولی دی چې.../
键	بټن/
键盘	سویچ بورد/
箭	غشی/
jiang	
江湖歌手，卖艺的	قوال/
江南	هغه سیمې چې د یانګځی سیند په جنوبي خوا کې پرتې دي/
江山，政权	سیاسي قدرت/
姜	شونډ/زنجفیل/
将功补过	د تېروتنو (اشتباه)د جبرانولو لپاره ښه کارونه ترسره کول/
将近	کابو یا نژدی. دا دی خو اوشا یو نیم کال تېر شو/ نژدې دی چې لس بجې شی/
将来	په راتلونکو وختو کې/ په آینده کې/راتلونکې/
僵局	که د منځني څټیغ سوله ایز جریان نور هم راکد پاتی شي نور نتایج به یې د هر خطرناک وی/ د دواړو خواوو ترمنځ سوله ایزو خبرو اترو رکود ماتول/ د منځني څټیغ د بحرانونو د حل په باب د اوسني رکود ماتول/ خبرې د څو ورځو په موده کې دوه واړې له رکود سره مخامخ شوی/
僵硬	جامد/د اسرائیلو په دې جامد موقف سره ګمان نه کیږي چې دا تصور حقیقت پیدا کړي.
僵硬的	احمد په نااطاعت کوونکو ګوتو پنسل کښېکښه/
缰绳	د آس ملونی یز چا ته ورکړه/
缰绳，牵绳	مهار/ پایې/
讲，操...语	احمد په دري خبرې کوي/ دري وایي/
讲，宣讲	زه به خپلې خبرې په بله غونډه کې تاسو ته واورووم/
讲暗语	شفرویل/
讲道，说教	موعظ=وعظ کول/ چا ته نصیحت کول/
讲故事	خو احمد بیا بل راز کیسه کوی/
讲话，口述	تقریر/
讲话的艺术（技巧）	د وینا او بیان سحر/
讲经坛	ممبر/
讲究排场	په شکلیاتو او فورمالیتی پسی ګرځېدل/ په ظواهرو پسی ګرځېدل/
讲究卫生	په دغه هوټل کې د نظافت مراعات ښه نه کېږي، ځکه زیاته مشتریان د مچیانو د لاسه په تنګ دي/ دوی په صفایي چارو کې پوره معلومات ورسره مینه او عادت لري/
讲述	دغه روایت د چا لخوا نقل شوی دی/ د طالبانو د تحریک د پاڅون کیسه یې را ته وکړه/

讲坛	ورته اجازه نشته چې په ټولنو کې شریک شی یا په منبرونو باندی د حکومت د روان حرکت په خلاف څه ووایي/ د خطابې مېز/
讲演，报告，讲课	لکچر/
奖杯	د جائزې کپ/ د قهرمانۍ کپ/
奖金	نقدي مکافات/
奖金，奖励	مجازات/ نقدي او مادي مکافات/ هغو کارګرانو ته به چه تولیدات یې د سړکال په تناسب زیات وی، مکافات ورکړی شي/څو ملیون ډالره چا ته د بخشش په توګه ورکړل شوې چې.../ د اطلاعاتو او کلتور د وزارت لخوا یوشمیر مامورین او هنرمندان تقدیر شول/
奖牌，奖章	مدال/
奖赏，奖励	جایزه/ انعام/
奖学金	لایقو او مستحقو شاګردانو ته به بورسونه ورکړی شي/ سکالرشیپ/
奖章	مدال/دی سپورتی ټولنی د سرو زرو(سپینو زرو ،ژرو)مدال ګټلی دی/ د جایزې مدال/
奖状，表扬信	ستاینلیک/ ښاغلی علم ته درېیمه درجه تقدیر نامه ورکړی شوه. /
降	ارتبدل = لویېدل: د انګریزانو بیرغونه چې ده راټول کړي وو ، د مزار پښو پلو ته یې وارتېږي/
降半旗	درې ورځې به یې ملي بیرغ نیمه کښته ځړېده او پر قبر به یې د ګلونو څادرونه او امیلونه غورېدل/
降到	د پیسو قیمت او ارزښت پنځمې برخې ته راکوز شو/ د ... لګښت خپل نزولی قوس تعقیبوي/تیټېدل/ځوړول/
降低条件	زه به د کانال د بیا پرانستلو لپاره د کنفرانس شرطونه نرم نه کړم/
降临	که بله بلا یې پر سره راکوزېږي ، د هغو بیا غم نه کوي/ زما تکیه په خپل لیاقت و او هرې ازموینې ته به په ډاډه زړه کیناستم ، خو د یوې ازموینې کامیابي پر ما پیرزوینه وه./
降生	احمد په ...کې دغې نړۍ ته سترګې وغړولې/
降雨，雪	دغه دواورې دوهم ځل اورښت دی/ اسمان به وریځ وي او اورښت به وشی/ د واورې اورښت شروع شو/
降职	پلانکی د وزارت د څوکۍ نه د ریاست څوکۍ ته تنزل وکړ/
jiao	
交叉点	دغه ښار د وسپنې د پټلیو د تقاطع په نقطه کې واقع دی/
交恶	کوریا له واشنګټن سره په کړکیچ کې ده/ شمالي کوریا او سمهال له واشنګټن سره په کړکیچ کې ده/ د...او ... ترمنځ بدی پیدا شوه / مقابله/
交锋	دوی ځایونه د دښمن سره په تصادماتو کې اچولی دی/ یو تر بله سره مخامخ کېدل/
交给，交付	دا خبره د جګړې له اعلان سره چې د اسرائیلو طرفدارو لویدیځو مطبوعاتو ته ورحواله کړی دی، ډېر توپیر لري/ د هغوی تاکتیک ته به یوه خطرناکه ضربه ورحواله کړي/ تسلیمول/
交换	او له هغه جاسوس سره چې په کوم هبواد کې بندی و ، بدل شو/ حکومت به یې هېڅ ته هم د چا د پرېښودو په بدل کې پیسې ورنه کړي / احمد او محمود د لاسلیک شوی موافقه لیک سندونه تبادله کوي/ له چا سره چې په امریکا کې بندی و ، بدل شو/ د ... په بدل کې/ راکړه ورکړه/که دوی خپل تاکتیکونه هر څومره بدل کړي/

交火	نطاق د هغوی ترمنځ د ډزو د تبادلې څخه راپور ورکړ/ د ... د توپچی قواو ترمنځه یو تر بله ډزې روانې دي/ جګړه ونښته/
交接	د یو زیرمتون د کلیو تسلیمي/
交流	لیږد رالیږد یا راکړه ورکړه/ تګ راتګ/ تبادله/
交流电	د نولس زره کیلوواټو بریښنا د متناوب جریان موتور/
交流球艺	د لوبې مهارت یې سره تبادله کړ/
交纳，交付	دولتي واحد حساب ته د مالیې تحویلول یا تحویلېدل/
交朋友，随同，陪同，伴随	(له چا سره) ملګرتیا کول/
交钱	په بیمه کې د شاملېدو لپاره څو یوانه تحویل کړي دي/
交税	مور د دې ځمکو محصول ورکړی او سندونه یې په لاس کې لرو./ د کورونو خاوندان د محصول د تحویلې پارچې لري/
交谈，谈话	صحبت/
交替的	پاڼې یې متناوبې دي/
交通	ترافیک/ترانسپورت/
交通灯	د ترافیک څراغ/
交通堵塞	په څو ولایتونو کې چې ۲۰ کیلومتره واوره پکې شوی دی د اورګاډیو، موټرونو او الوتکو تګ راتګ بنډ شوی دی/
交通工具	دغه لار به ژر د ترافیکی وسایلو د تګ راتګ لپاره چمتو کېږي/
交通警察	رسمي او شخصي ګرندی موټرونه د ترافیکی وظیفه لرونکو په لارښوونه په ټاکلو ځایونو کې پاک شي/
交通事故	ترافیک پیښه/ ترافیک تصادمات/
交通线延伸	د مواصلاتو د لارو تمدید/
交通要道	مهمه مواصلاتي لار/ د مواصلاتو مهمه لار/ لویې مواصلاتي لارې/
交通中断	د فرانسې په ځینو سیمو کې د ډیرې واورې د اوریدو په اثر له نورو سیمو سره د سل ګونو کلیو د مځکې د لارې رابطه شلېدلې ده/
交头接耳	هغوی زما په باره کې غوږې غوږې کېدل/
交响乐队	ارکسترا/
交响乐团	د سمفونی ارکسترا/
交易	مصر به د فلسطین د خلکو د خود ارادیت حقوقو معامله ونه کړي/ خلک په ورځنۍ راکړه ورکړه کې بېرنی اسعار کاروي/ ډېرې معاملې په افغانیو نه تر سره کېږي/ سترې راکړې ورکړې په ډالرو کېږي/ له... سره معامله کول/ نظامي مقاماتو د بانکونو د بندولو په ترڅ کې ټولې بانکي معاملې منځ کړې دی/ ور ته معامله کول/
交战的	محارب هېوادونه/
郊区	د میونیخ د ښار په ورځېرمه کې/
郊游，柏油，沥青	قیر/
娇惯，爱抚	ناز/
娇生惯养	هغه په ناز او نعمت لوی شوی دی/

娇养的，娇嫩的	نازولی/
浇，灌溉	ته اوبه ورکول/
浇花	ګلانو ته اوبه ورکول/
骄傲	کبر او غرور يې پيدا کړ/ خولی به يې کړه اېښې ده /
骄傲的，傲气的，自高自大的	مغرور/
骄傲地，自豪地	په سر لوړی/ مفتخر/ سربلند/ سرفرازه/
骄傲自大	تر څو يو په بل باندې فخر (تکبر)و نه کړئ/څوک چې د خلکو په وړاندې کبر او لويې کوي.../ وګوره چې هغه څه په ډپ کې ګرځي / مغرورانه چلند/ له نورو څخه ځان پورته ګڼل/
胶	ربړ/
胶卷	فلم/
胶囊	کپسول/
胶片，底片	فيته/ فلم/
焦点	دا د اوسنۍ مجادلې يو نوی مرکز ګڼل کېږي/
焦急，迫不及待	تلوسه/
焦虑	دی مضطرب و /
焦炭	کوک/
焦头烂额	چا ته ډېره سخته ضربه رسول/پرچا سخت ګزارول/ د کار موندلو په لټه کې ډېر سرګردان وم/
角	معلومه خبره ده چې نرغرځه د ښاخونو لرونکی وی او ښځې هوسۍ ښاخونه نه پيدا کوي/
角，犄角	ښکر/
角度，斜角	زاويه/ له مدار سره يې د انحراف زاويه ۳ درجې ده/
角落	کونج / څنډه: د دستګاه يوه څنډه/ هغوی د خپلو ګوټو په ګوتو کې ناست او د زړه وينې څکی/ د ښار په ګوټ ګوټ کې د غوښو د ټکولو ماشينونه رواج شوی دی/ بايد د تيارو کنجونو څخه راوويستل شی/ د کوټې په کونج کې يو ميز پروت دی / د ميز پر څنډه /
角色	رول/ په دې خونړۍ ډرام کې چې زورګيرو کوم پاټونه لوبولی او يا يې لوبوی،انسانيت ورته زړه نشي ټينګولی/
侥幸	پر ته له خولو او وينو څخه د بخت او طالع له لارې موفقيتونه په اسانۍ سره لاس ته راتلای نه شی/ له نيکه مرغه ژوندی پاتې و/
狡辩	دوه ژبې کول/
狡猾	حيله ناک/ محيل سړی/ خپلې مکارې سترګې يې پرانستلې/ مکر/ ماهر چلونه/له مهارتی نه ډک چل/
绞架	دار ته يې دوراوه ، غرغرې ته يې وړاندی کړ/ صدام يې غرغرې ته ودراوه/ صدام د اختر په ورځ غرغره کړای شو/
绞肉机	د غوښو د ټکولو ماشين/ دغوښو د ميده کولو او ټکولو ماشين/
绞绳	پړی زيږ او تيز دی/ د دار پړی/ زما په غاړه کې د پانسۍ پړي مه اچوئ/ زما په غاړه کې د پانسۍ پړي مه اچوئ ، مخامخ مې پر ټټر د ګوليو بخۍ تيرې کړئ/
绞死，吊死	مور غواړو هغوي ټول غرغره کړو./

绞索	اوس خبره داسې حد ته رسيدلې چې پروپاګنډ يې شنډ او ظلم يې د غاړې زنډۍ شوي دي /
绞刑	يو سابقه لرونکی مجرم په دار وځړول شو / په دار خيژول / په دار کول / غړغړه کول / په زنډۍ کول / په سولۍ خيژول / دار ته يې دوراوه ، غرغرې ته يې ورانده کړ / صدام يې غرغرې ته ودراوه / صدام د اختر په ورځ غرغره کړای شو /
饺子	د جياو ځه په نامه خوراک خوري چې له اوړو څخه جوړيږي او په منځ کې غوښه يا سابه وي /
饺子馆 （包子馆）	د اشکو خورنځی (د منتو خورنځی) /
矫健	د دغه باز د الوتلو رفتار ډېر تيز دی /
脚	پښه /
脚边	د ميز پښو ته يو چپه شوی بوتل ليدل کيږي /
脚步声	د چا د قدمونو ښکالو / د باندې د پښو کړپی اورېدل کيږي / دواړه د قدمونو ښکالو ته متوجه شول / کړپهار / اوس يې د پښو کړپاړې نه شي اورېدای / د پښو په څپ څپ يې ناظر له ځايه جګ شو /
脚底（鞋底）	د پښې تلی (د بوټو تلی) /
脚关节	د پښې بند /
脚后跟	پونری (پونده) /
脚镣	ځنځير / په زنځيرونو تړلیو پښو يې د دار په لور ګامونه پورته کړل /
脚镣手铐	په پښو يې زولنې او وڅچک لاسونو يې هغه صحنې تمثيلوي چې دغو پوځيانو پر بنديانو راوستلې وې /
脚腕（踝骨）	ښنګری / بجلکه /
脚印	په اخر کې د تام سترګې د پښو په پلونو ولګېدلې چې په ځمکه باندې اينبودل شوی وو / پل / پی /
脚掌	تله / د پښې ورغوی /
缴获	يو زيات شمېر وسلې غنيمت يووړې / د غنيمت لاس ته راوړل / غنيمت په ډول تر لاسه کول / په غنيمت نيول / دا توپک ما ولجه کړی ، پرون يې ما ته ښه خدمت وکړ /
缴纳办法	د مالياتو محصول د ورکړې ډول /
缴械	خپله وسله په ډاګ اينبودل /
叫，召唤	احمد محمد راوغوښت او ورته يې وويل چې مينجر صيب دې غواړي /
叫喊	شور او زوږ پر جوړول /
叫好	هلو ځلو ته شاباس وايي / تپول /
叫来	ملا صاحب يې هم راووست /
叫嚷	د ... هنګامه توده کړه /
叫做	داسې وګڼي او تولنيزو هڅو ته د تاريخ په پراو کې انقلابي حرکت وايي چې د ملتونو په تاريخ کې د عطف نقطې بلل کيږي / نومېدل (نومېږی ، نومېده) /
轿子	ډولۍ /
较量	د هېواد د آزادولو په غرض يې د نړۍ له زورور طاقت سره پنجه ورکړه / زور ازمويل / زور وهل / دواړه بيا سره ودرېدل او زورونه يې وهل / د زور ازموينه / ځان د چا سره په جوال کې اچول /
教，教授	چا ته لوست ويل / ور زده کول /
教长	امام /

教导	ارشاد (ارشادات) په اسلامي ارشاداتو کې داسې راغلي دي ... /
教课	ښوونه کول/
教练员	د خارجي او داخلي سپورتي روزونکو په واسطه هغوی ته په دې باب درس ورکول کېږي/ د لوبو لارښوونکی/ روزونکی استاد/مربی /
教师	معلم/ښوونکی/
教师岗位	د ښوونوالي يا معلمي له دندې څخه لرې پاتې شوې او اوس يوه اجيره يې /
教书，教学	تعليمول/
教唆者	د دغه برید زده کړې ورکوونکي له پولې ها غاړې دي /
教堂	کليسا/
教条	ډوګمه/
教条主义	ډوګماتيزم/مذهبي تعصب/
教学	تدريس(درس ورکول): دغه ښوونکی به د بيولوژی، فزيک او رياضی په برخو کې تدريس وکړي/ عصري تعليم او تدريس په هيواد کې غلبه مومي/ خپل ځان ته پخپل ځان تعليم ورکړه ! / احمد په پوهنځي کې د نړيوالو حقوقو ښوونه وکړه /
教学大纲	د ښوونځي نصاب / تعليمي نصاب/
教学方法	زمونږ ښوونکی بايد د ښوونې او تدريس له نويو ميتودونو او شيونو سره آشنايي پيدا کړي/
教训	درس(درسونه) / کله به زه ورشم او هغه به په سزا ورسوم/ اوس به دې سم کړم/ له ناکامی نه تجربه اخيستل/ چا ته د عبرت درس ورکول/ بايد هر يرغلګر ځواک د چا له ترخه برخليکه د عبرت درس واخلي /
教养的，文雅的	مودب/
教养院	دارالتاديب ډ کوچنيو مجرمينو يو اصلاحی او تربيوی مرکز دی/که چيرز ماشومان جرم وکړي، دارالتاديب ته اسُتول کېږي/
教义	په اسلامی دنيا کې د اسلام د ډوګمې خاص او همه رول/ د دين ارزښت/ شريعت/
教育	هغه خپل تحصيلات په بيجينګ کې سر ته رسولي دي / د ماشومانو په ښوونه او روزنه کې/ د کوچنيانو په مانی کې دې ته توجه کېږي چې کوچنيانو ته د پوهنې زده کړه ورکړي/ښوونه او روزنه/تعليم و تربيه/ تعليم(تعليمات) / د.... تربيت کول/ معارف/
教育部	د.معارف وزارت /د ښوونې وزارت / د زده کړې وزارت /
教育革命	د پوهنې په برخه کې انقلاب/
教育计划	روزنيز پروګرام/
教育制度	تعليمي نظام/
校对	ما هم د ملي او رسمي وظيفې په توګه نقل شوې نسخه له دريواړو نسخو سره مقابله کړه/ نيرنګ عشق د پښتو ټولنې يوه بل غړی مقابله او تصحيح کړی دی/ دی غواړي چې په خپل نوی لوی قاموس باندې دوهم نظر واچوي،اوٗ د چاپ لپاره چمتو کړي/ اهتمام/
jie	
阶层	پاتکی/ طبقه/
阶段	اوس زمونږ هيواد د بيا جوړولو او ودانولو په پړاو کې دی/ زمونږ ټولنه داسې پړاو نه ده رسېدلې چې هيڅ راز ستونزه وته لرې/ مرحله/

阶段性的	پړاويز /مرحله ايز/ ائتلافونه مرحله يي بڼه لري او دوامداره نه وي./
阶级社会	طبقاتي ټولنه/
阶梯	د تکنولوژۍ په پوړيو سپوړمۍ ته پورته کېدل/
接班人	احمد غوښتل چې د چا ځای ناستی وپيژندل شی/ احمد د چا ځاناستی شو/ زمونږ ځوانان د دې مقدسی خاوری راتلونکی وارثان دی/
接触	دوی به هره ورځ يوازې له سلو تنو سره چې دوی ټول د هر ډول ناروغۍ له نظره معاينې شوی ناسته ولاړه ولري / مصر له اسرائيلو سره د فوځي تماس د ليرې والی په باب موافقه لاسليک کړ/ دغه ناروغي له... سره د تماس يا اړيکې له لارې خپريږي/
接待	په هر ځای کې د چا تود هرکلی او ميلمه پالنه وشوه. / دا هوټل ۳۷ خونې لري او په يوه مياشت کې ۴۵۰ سياحين پالي/
接待主任	د پذيرايي مدير/
接管	په زور سره يې د هغه هيواد له حکومت څخه ګرد قدرتونه د خپل لاس او اداري لاندې راوستلي دي/
接轨	د دولتي ادارو کاري څرنګوالی بايد د اوسنۍ پيړۍ منل شويو معيارونو سم عيار شي/
接见	صدراعظم د عراق له نوي سفير خپل حضور ومانه/
接近	احمد غواړي چه ستا سره تقرب وکړي/ پلانکی حکومت ته مقرب دی/
接力赛	ريلی څغاسته/
接上	دغه سيمه له بحيره عرب سره اړخ لګوي/ په شمال غرب او غرب کې په زياته برخه له افغانستان او يوځه هم له ايران سره لګېږي/ له...هېوادونو سره اتصال لري/
接上页	په تير پسې/
接生	قابله ګی نوی ميتود / په نوی طريقه قابلګی چارې اجرا کول /
接收，接受，接纳，采纳	قبلول(قبولول) /
接收机（电视等）	اخزی دستګاه /
接受病人	ناروغان منل(قبلول) /
接走孩子	له ځان سره خپل ماشوم بوځم/
接通管子	ضعيف سړی د احتياطی وينو څخه يوه ډکه لوله له ځانه سره په جيب کې اخستی او د رګو سره يې وصل کړی وی/
接线员	تيلفونچی/
接踵而来	د طالبانو د واکمنۍ د پرزولو وروسته ډېرې ناخوالې او دردونکې پېښې يو د بل پسې وشوې او کېږي چې.../ ناخوالې او دردونکې پېښې يو د بل پسې وشوې او کېږي چې... /
揭不开锅	د امين پلار مرګ حال دی، کاله کی ارګانه هم نه وه/ يو داسې وخت راغې چې د ده څو شپې ورځې د خوړلو څه پيدا نه شو او نهار نهور به ګرځېده/
揭穿	د مرستون بد حالت يې ډاګيز کړ/
揭穿，揭露	لوی څارنوال اکشر ليکوال د هيواد د بدمرغۍ د عواملو راسپرل او په ګوته کول خپله وظيفه ګڼي/ ميدان ته راايستل/ افشا کول/ حقيقي حالات ټولو ته معلومول(څرګندول) / دا خبره يې مطبوعاتو ته نه ده په ډاګه کړې/ احمد د مطبوعاتو پر وړاندې له دې پلان پرده پورته کړه/ د چا کتاب له لسګونو پټو رازونو پرده ايسته کړه/

揭短	د چا پرده لوڅول / يو بل بد مه هيسوی (ايسوی) او يو بل ته مه شا کوئ / يو بل ته شا مه ګرزوئ/
揭发	د دادري فساد ستونزه يې رابرسيره کړه /
揭开	د اسرارو له مخې پرده نه ده پورته شوې /کاغذ له..څخه پورته کول / دا حقيقت د چا لخوا برملا شو / د اسرارو له مخې پرده پورته کول /
揭秘者	پرده پورته کوونکی يا راز پاشونکی /
街，巷，胡同	کوڅه / نکاح خط د ښاروالیو په منطقو کې د ناحيی د مدير يا د کوڅې د وکيل په تصديق د محکمې له پلوه ورکول کېږي /ښاري هستوګنځی/
街道办的	داسی فابريکی چې کوڅو او واټونو د اوسيدونکو له خوا اداره کېږي/
节，章，条，条文	ماده/
节，节日	اختر/
节哀	د جميل صبر غوښتنه کوي/ کورنی ته دې يې ژميل صبر په نصيب شي/
节节胜利	پر له پسې بری ګټل (لاس ته راوړل) /
节目	پروګرام/ پارچه/
节目单	د پروګرام ليست/
节省，保留	سپمول/
节水农业	د کرنې هغه سيستم چې کمې اوبه پکې استعمالېږي/
节外生枝	مشکلې مسئلې منځ ته راوړل/د پيچلو مسئلو باعث کېدل/مشکلات منځ ته راوړل/
节衣缩食	د خوراک او پوښاک د سپما له لارې/
节约	څوک چې له چا سره رخه او کينه لري، نو د هغه چوغلی بايد تر وسه وسه د اسعارو په مصرفولو کې له سپما څخه کار واخستل شي/ مونږ هېڅ سپما کولی نه شو/که خوار او غريب سيما ولري خامخا بډای کېږي/
节制，禁忌	له.. څخه پرهيزول /
劫持	د امريکا سفارت د چا يرغمل نيولی و / احمد د چا لخوا وتښتول شو / دغه بيړۍ د سومالیا سمندري غلو تښتولې وه / يوه بيړۍ سمندري غلو برمته کړه/
劫后余生	ملي آرشيف له چور او چپاول نه روغ رمټ پاتې شوی او ټول اثار يې سالم پاتې دي/
杰出的，显著的	د يادونې وړ هنري استعدادونه وښودل شول/ دوی ډېر ښه شهرت درلود او په کار کې وتلی خلک وو/
杰出的人，壮士，英雄	ا تل/
杰里布（相当于公顷）	جريب/
杰作	د انسان خلقت د طبيعت يو شاهکار دی/
拮据	احمد د جيب لخوا کمزوری و او نغدي يې نه درلودې /
洁净的，纯洁的	سپيڅلی/پاک/
洁身自好	احمد ډېر زيات د پاکی خوښوونکی دی/
结，系，连接	ترل/
结冰	يخ نيول/
结成	غوټه کېدل/
结构，组成	ترکيب/
结果	دغه پېښه د يو ناوړه تفا هم زېږنده او د دواړو لوړو چارواکو د غوښتنې پر خلاف ده/ دغه

	ټولې بریاوې خپله د پوهنې د وزیر او د ده د همکارانو د پر له پسې هلو ځلو پایله ده/ خو څه کوچ یې تري تر لاسه نه کړل / مبوه نیول/ عاقبت/ نتیجه/پایله/ پایله دا شوه چې ولس یو ډول پتې غوسې په مخه کړ/پایله دا چې.../
结合	په ژوره توګه له خلکو سره یو ځایښت ګټل /
结核病研究所	د توبرکلوز پلټنې انستیټوټ/
结婚（找丈夫）	دوی واک لري چې په خپله خوښه مېړه وکړي/
结婚，嫁	ودبدل/
结伙	کله چې د خوراکي موادو د ریاست اوړه هلته ولېږدول شول،یو زیات شمېر محتکرینو ټولنه کړې او.../ احمد غواړي چې محمد له خپل ځان سره ملګری کړي/
结晶	د عقل عالي جوهر/
结局	د دیکتاتورانو انجام همداسې وي/ د بدمرغۍ انتها/
结扣	پرې دومره پرېږ او غوټې یې غټې او کلکې وې /
结论，论证	استدلال/
结盟	کرزي ښایي پاکستان ته د ملګرتیا لاس ورکړي /
结社	د ټولنې جوړولو حق /
结束	ډېرو پوښتنو او شکونو ته د پای ټکی کېښودل شو/ سیاسي لانجو ته خاتمه ورکوي/ پرځمکه یې وغورځاوه او ژوند ته یې خاتمه ورکړه/ د دغو خبرو د پرونۍ غونډې له ختمېدو وروسته/ هغوی د خپلې الوتنې پروګرام په پوره ډول سر ته ورساوه او مځکې ته د رابښکته کېدو په حال کې وو/ د الوتنې د پروګرام له بشپړېدو وروسته/ د چا د واکمنې ټغر په ټولېدو و / د نیمې پیرۍ جګړې ته د پای ټکی کېږدی/ په دې توګه د اساسي قانون په باب ډېرو پوښتنو او شکونو ته د پای ټکی کېښودل شو/ مشکلاتو ته په خپله ملي هڅه او زیار د پای ټکي کېږدو او تېرې خپل منځي ناخوالې په هیرو وشمېرو / د افغانستان پارلمان په دوهم کال پای کېښود/ پای ته رسېدل/
结算	لومړی بانکي حساب په یورو شول/ د هوټل مصارف په یورو شول/ له بده مرغه د دولت ستر حسابونه د ډالرو له مخې سنجول کېږي /
结余	له حاجت نه زیاتې پیسې/ د خپلو اړتیاو له پوره کولو نه علاوه یوه اندازه پیسې دوی ته پاتې کېږي/څه مازاد هم په لاس راځي/
结怨	که د دواړو ترمنځ کوم زړه بدی او خپګان پیدا شي /
结帐	دغه تاوان به د شرکتونو د حسابونو له تصفیې نه وروسته هغوی ته ورکړي / هر وخت چې مربوطه موسسه خپل حسابونه تصفیه کړي، نو دغه موټر به بېرته په فعالیت پیل وکړي / د حساب او بقایاو د تصفیې په باره کې یو مفصل رپوټ/
结子	عقده: د زړه عقده/ پیچلې عقده/
睫毛	بانه(بانوګان) /
截击敌人	د دښمن قطع پرې کول/
截肢	بدن پرې کول/
截住话头	خبره وچول/
竭尽全力	د افراطي کوښښ له مخې(یو کار کوي) / د خپل توان په اندازه سره/ په نفوذ لټولو کې یې خپل ټول کافت په کار اچولی دی/ تر خپلې وسې پورې/
竭泽而渔	د ډنډ ټولی اوبه خوشی کوی او له وچ شوی کاسې څخه یې کبان نیسي/

姐姐，妹妹	خور(خويندې)/ خويندې مينډې /
解除（封锁）	بنديز لغوه کول/
解除，摆脱	له...څخه ژغورل/
解除禁令	د... تحريم خوشې کول/
解除思想武器	د ... په اثر بايد د چا فکر خلع سلاح نه شي/
解除武装	بې وسلې کول/ د وسلې والو ډلو بې وسلې کول/
解除职务	فلانی خپل ماموريت بېرته شو/
解除指控	له ځانه د اتهام ليرې کول/
解冻	يخ ويلېدو شروع کول/
解放	آزادول/خلاصول(خلاصوی، خلاص يې کړ)/
解放和发展生产力	د توليدي قواوې آزادول او پرمخبيول/
解雇工人	کارګران له کار څخه وايستل شول/
解恨	ما د ميوند پر ميدان په غليم زړه سوړ کړی و/ په احمد مې لا زړه نه سوړ شوی/
解决	حلول/ حل وفصل/
解决分歧	د اختلاف له منځه وړل/
解开纱布	پټکی خلاصول/
解散	منحلول/ د کوريا د وحدت او احيا لپاره د ملګرو ملتو کميسيون بايد رنګ کړی شي/ د ترکيې يوې محکمې نوموړی ګوند لغوه کړ/ شورى د باچا په امر ماتيدلی شي/ پارلمان حق لري چې حکومت ساقط(منحل)کړي/
解散，取消	د چا شرکت منحل او شتمني يې ضبط کړه/
解释	د قوانينو تفسيرول/ هغه خپلو شاګردانو ته د (څنګه بايد خپلو حافظه پياوړی کړو؟) په باره کې تشريحات ورکول/ سادات فلسطيني مشرانو ته خپل موقف توضيع کړ/ ده د نومونو په باب د توضيحاتو ورکولو په وخت کې وويل... / د دغه تعبير له مخې/ توضيح (توضيحات)/ تفسير/ بيانول/
解释定义	هغه د خپل پوره تعريف په شرحه کې ليکي/
解释性的	نمايندګانو له رايو ورکولو نه وروسته د خپلو توضيحي ويناوو په ترڅ د موافقه ليک د محتوياتو په مقابل کې خپل شديد نه رضايت څرګند کړ/ يوه توضيحي وينا يې وکړه/
解脱	خلاصون/خلاصول/ له اقتصادی نفوذ څخه يې ځان بچ کړی دی/
解职	له وظيفې څخه عزل/
介入，关连	ازادی دفرد او اجتماع په سرنوشت کې ډېر زيات دخل لري/ هغه کار چې يو سړی په خپله اراده نه کوي او دوه اختيار پکې هېڅ دخل نه لري، د ده کار ورته نه شو ويلی/
介绍	چا ته د خپلو ارزښتونو پېژندګلوي/ نورو ته ورپېژندل/ د چا ژورنالستکي فعاليتونه يې راوسپړل/ احمد په خپل کتاب کې د چا پېژندګلوي داسې کړې ده.../ هغه ته يې نور ملګري وروپېژندل/احمد محمود د چا په واسطه يوې ښځې ته وروپېژانده/ د چين حالات ورپېژندل/ معرفي کول/
介绍信	معرفي ليک/ معرفي خط/ مونږ هم په خپل وار له خارجيانو سره د هېواد په پېژندګلوی کې برخه اخلو/ د هېواد د فرهنګ او تاريخ د پېژندنې په غرض/
戒骄戒躁	له غرور او تند خوی(تندی) څخه ځان ژغورل/
戒严	له يوې بڅې نه وروسته د بزکشی تر پايه پورې د بګرامیو د ميدان خط السير بيخی ترل

	کېږي/هېڅ عراده د عمومي خط السير په دننه کې د تګ را تګ حق نه لري/ په کراچۍ کې په ګرځېدو باندې قيود يعنی کرفيو لګېدل/کرفيو به لا تر نا معلومه وخته پورې لګېدلی وی/ د مارشل لا اعلامول/
届	د م م د موسسې د عمومي ټولنې په ۲۲ دوره کې د ګډون لپاره/ هغه غواړي ځې د يوې بلې دورې لپاره د جمهور رئيس په حيث انتخاب شي/
界	په سياسي کړيو کې/ اخبارو الاو ته يې يوه بيانيه خپره کړه/ د ژوند د بېلا بېلو برخو وطن دوست شخصيتونه/ د خلکو بېلابېلې ټولنې/
界限	فاصل حد/ د انسان په ژوند او عمر کې يو لړ ټاکلی پولې او حدود شته/
借	هغه هم ښه و او خپل ګوډی يې د بل کور ته نه وروړ/ دا کتاب را ته امانت راکړه/ پيسې می د امانت په ډول ورکړې دي/ پور/
借此机会	له دې موقع څخه په استفاده/ وخت غنيمت ګڼل /ددې وخت څخه په استفاده/ په دې موقع کې/
借高利贷	پيسه په ګټه اخيستل/
借给	پيسې مې د امانت په ډول ورکړی دی/
借机	د موقع په غنيمت سره/
借口	بهانه /پلمه: بالاخره يې زمونږ قونسلګری وترله او پلمه يې وکړه چې زمونږ قونسلګري د دوی پر ضد خلک لمسوي/ همدا فکر يې کاوه چې څه بهانه ځانته پيدا کړي. /کومه پلمه جوړه کړي/ بيا د بهانې موندلو په فکر کې شو /تامه! دا بهانی مه کوه!/ په يوه يا بله پلمه/ چا ته اوس يو ښه لاسپاک په ګوتو ورغلی/ بيا نو ډول ډول بانې او پلمې جوړوو/ په همدې پلمه بوش... په همدې بهانه/ زوروا کو ته اوس يو ښه لاسپاک په ګوتو ورغلی ، هر زوروا ک چې.../
借来	کتابونه له کتابخانې نه په امانت اخيستل/ احمد له ... څخه يو بايسکل په امانت اخلي/ احمد ته يو کتاب ورکوم/
借债	په پور کې تر دوو غوږونو غرق دی ، زيات پورونه ورباندې دي/ ده يوو چا ته پور ورکړی و او چې د ياد شوي پور د بيرته تر لاسه کولو لپاره هلته لاړ.../ هغه څوک چې په سود پيسې اخلي او بيا هغه نشی تاديه کولی/
借债的，负债人	پوروړی: پوروړونکی هېواد/ پاکستان د کوم هېواد پانګې پوروي/
jin	
今不如昔	تېره زمانه تر نن ورځې ښه ده/ نن د تېری زمانې په نسبت هېڅ ښه والی نه لري/ اوسنې حالات د پخوانيو حالاتو په نسبت ښکته راغلي دي/
今后	له نن څخه وروسته/
今年的	خو د دفتر سرکلنی بدمرغي دا ده چې بوديجه بيخي کمه شوې ده/ سږنی/
今天，今日	نن/
金箔	د سرو زرو ورق/
金的，金色的	زرين/
金发女郎	هلته به په طلايي ويښتانو ښکلي پېغلې راتللې/
金刚石，钻石	هغه د الماسو د خرڅلا تجارت کاوه/
金鸡纳霜	کنين/کونين/

金牌	طلايي مدال/
金钱	د زر له لارې / هغه څه چې پاتې کېږي او حاکميت چلوي ، هغه به زر او زور وي /
金融的	پولي/
金融管理局	پولي اداره/
金融货币	مروجې پيسې/
金融货币危机	مالي او پولي بحران / د مروجو پيسو بحران/
金融体系	پولي سيستم /
金融统一	د ګډ بازار د پولي يووالي مسئله/
金三角	د زرين مثلث سيمې /
金星月	د زريني مياشتې سيمې /
金属	دودکشونه يې د ۳مترو په اوږدوالی د مخصوصو فلزاتو په واسطه پوښل شوي دي/
金属，五金	فلز(فلزات) /
金属的	فلزي/
金属加工	مسګري /
金属切削机床	د فلزاتو غوڅولو ماشينونه/
金子，黄金	سره زر/
金字塔	هرم(اهرام) /
津津乐道	د کانفوسيوس په باره کې يې زيات شوق او خوند زيات ميل او علاقه خبرې وکړې/
津贴	مرد خرچ/ مرد خرچی/مرد خرځ/
筋疲力尽	د علاقه دار صاحب رګونه د آس د سپارلې په اثر وچ کلک دريدلي دي/
襟怀坦白	پاک زړه/
仅仅	ايله ايله/ فقط/ صرف/ يوازې/
紧急	فوري او ضروري /
紧急部队	د ملګرو ملتو د موسسې د اضطراري پوځونو قوماندان/
紧急大支尔格会议	بېړنۍ لويه جرګه/
紧急的	بېړنې/ فوتی/ عاجل/
紧急会议	د غه فيصله ليک په يوه عاجله غونډه کې تصويب شو /
紧急救援工作	بېړني مرستندويه کارونه/ د شهيدانو کورنيو او ټپيانو ته بېړنۍ مرستی رسول/
紧急情况	له بنوونکيو سره په عاجلو مواردوکی د مرستی په منظور... / بېړنی حالت/
紧急万分	کور دې د تلواري کاره ډګ شی !/
紧急状态	په هيواد کې اضطراری حالت اعلام شوی دی/ خلکو بيګا په اضطراری حالت کې تېره کړه/ د امريکا استوونکو دستګاو د امريکا خلکو ته د اضطراري حالت خبر ورکړ/ د اضطراري حالت اعلامول/ په سمدلاسي حالاتو کې/
紧扣	د ناول له پيل څخه تر پايه يې له پښتو سره نښه تړاو موجود دی/
紧迫，火烧眉毛般地	اوس مې بيا له ډيره تلواره نو کان وتلې وه /
紧身的	تنګ کالی /اوسنۍ پيغلې تنګ کالي خوښوي /
紧要关头	حساسه موقع/
紧张	خړپړ/کړکيچ د رودیشيا او زمبيا ترمنځ روابط خړپړ شول/ خړپړ حالات/

紧张而愉快	په شوق او جدیت سره/
紧张气氛	د اروپا د کړکیچ د کمښت په لاره کې خړه پړه فضا/
谨慎	احمد د ملګرو په انتخاب کې ډیر زیات محتاط دی / په حزم او احتیاط سره / دغه پیشنهاد ته یې یو محتاطانه خواب ورکړ/ د آلمان صدراعظم د بریژنیف د پیشنماد په مقابل کې یوه محتاطانه رویه ونیوله/
谨小慎微的君子	ډارن او ډزر زیات احتیاط کاره کسان/
锦标赛	چمپینشیپ/تورنمنت/ د نړیوالې اتلوالی مسابقه یا سیالي/
锦绣河山	د کوریا د درو زرو کیلو مترو ښکلی خاوره. د کوریا درې زره کیلومتره ښکلې خاوره /
尽管…还	سره له دې چې...بیا هم/که څه هم ... خو بیا هم / افغانانو ښودلې ده چې په خپل منځ کې هرڅومره هم اختلاف ولري ، د بهرني تیري په وړاندې یې یو موټی عمل کړی دی/ بهرني ځواکونه سره له دې چې په شرموونکي ډول زموږ له هېواد وتلو ته اړ شول ، خو .../
尽可能地	د امکان تر حده پورې /
尽快的	بې ځایه شوی خلک دې هر څومره ژر چې امکان لري ،له نوي سره بیا اباد کړی شي/ هیله یې وکړه چې اوسنی حالت دی په ممکنه چټکتیا حل شی/څومره ژر تر ژره/
尽力	د خپل توان په اندازه/ تر وسه وسه پورې/په خپله وسه /
尽情的	په ډېره مینه یې سندرې ویلې/
尽心尽力	ښځه تر خپله توانه له میړه سره مرسته کوي /
尽义务，负责，保证	ذمه وهل/
尽最大可能	تر وروستې ممکنې اندازې پورې/ د امکان تر حده پورې/ تر شونې کچه پورې/ تر ممکنه حده پورې/
近（对…，在…面前）	نزد (په نزد) / نژدې/
近期	د یوې وروستۍ میاشتې په اوږدو کې
近亲结婚	د نژدې خپلوانو ترمنځ ودونه/
近在咫尺	د چا له خولې ویل شوي : امریکایي ستلایټ ملا عمر ته دومره نژدې دی چې د ډیرې او ویښته یې هم شمېرلی شی/
进，进入	ننوتل/
进步	پرمختګ/ ترقي نژدې/دا دعا کوم چې نور هم پرمخ باندې ولاړ شی/
热血沸腾	وینې په غورځنګ شوې (وینې په جوش راغلې)/ پښتنو ته یې د بدلې اخستلو وینې وخوټکېدې/ د دې په لیدو د ټام په رګونو کې وینه وچلېده/ احمد چې د بابا وینا واورېده د پښتونولۍ وینې یې په غورځنګ شوې/ د پښتونوالي وینې یې په جوش راغلې/
ren	
人	انسان/ ذات/ وګړی/ کس/
人剥削人	هلته له سړي څخه د سړي استثمار نه وی/
人才	د نورو هنري څېرو د موندلو او جلبولو په لار کې/ د مال تدبیر او علمي رجالو غونډول/ استعداد لرونکي کسان/
人才市场（苦力市场）	د خارکار کمپ/
人参	یو ډول طبي بوټی چه ژن شن نومېږی/
人道（主义）	نوع دوستي/ انسان دوستي (پرستي)/ بشر دوستي/ انسانیت/ نوع دوستانه رویه/ هند به د پاکستان د جنګي بندیانو په مسئله کې د یوې بشر غوښتونکې نظریې څخه استفاده وکړې/ د بشر پالنې له مخې ور سره مرسته وکړئ!/
人的尊严	انساني کرامت/
人格	لوړ شخصیت/ له انساني کرامت نه مخالفه سزا ټاکل جواز نه لري/ انساني وقار/ هغه د عبدالغفار شخصیت وستایه/ یوازنی ارزوي انساني وقار ساتل دي/ پت/
人工的，人造的	مصنوعي: مصنوعي ساه ورکول/ د مصنوعي باران اورول/
人间地狱	په دنیا کې جوړ شوی دوزخ/ سړي داسې انګیرې چې دغه د ژوندیو انسانانو هدیره ده/
人口	نفوس/
人口稠密	د نړۍ ډېر ګڼ ښارونه او د مدنیت مرکزونه به په ډېر کم وخت کې خاورې ایری شي/ له نفوس څخه ډکه سیمه/ هغه وویل چې غیر نظامی او د خلکو نه ډک خایونه د دغه هېواد د جنګي الوتکو په هدفونو کې ندی شامل/
人口调查	د سر شماری لوی مدیریت/ سر شمېرنه/ د خلکو د شمېر سروي/
人类	بشریت/

人类的	بشري/
人类原始社会	د انسانانو لومړنۍ ټولنه/
人们，人类	بنيادم/ خلک/ مردم/ ولس/
人民，民族	امت/
人民币	د ژن مين بي 4 مليونه يوانه/
人民的，民间的	ولسي/ خلقي/
人民解放军	ولسي بخښوونکی پوځ /
人民权利	اولسواکي/
人民艺术剧院	د ولسي ارت تياتر (هنري ننداري)/
人品低下	د چا شخصيت ټيټ او مقام يې ذليل دی /
人情味	زمونږ ټول فعاليتونه بايد انساني وي/
人权	بشري حقوق/
人群，拥挤	ګڼه ګوڼه/
人群密集地	د ګڼې ګوڼې په سيمه کې / په ګڼ ميشتو کې /
人人都说家乡好	هر چا ته خپل وطن کشمير دی /
人山人海	د خلکو ګڼه ګوڼه وه/ځوان تري ورولیږي شو او د خلکو ګڼې ګوڼې خواته وخوځېد/
人身保险	د ځان بيمه /
人世	څوک له پاني دنيا څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې/
人事任免	د مامورينو مقرري او برطرفي/
人寿保险	د ژوند او عمر بيمه /
人体	د انسان وجود (بدن) /
人物，人	شخصيت/
人与人的关系	انساني اړيکې/
人赃俱获	څرنګه چې خپله مجرمين او د موادو په برخه کې شواهد لاس ته راغلی دی/
人造棉	طبيعي او مصنوعي پنبه/ مصنوعي پنبه په ټيټه بيه جاپان څخه برابرېږي/
人造丝	سنډ/ د افغان نساجۍ فابريکې 47 مليونه مټره تارين او سنډی پارچې توليد کړې دي/ سنډی توکران/
人造卫星	مصنوعي سپوږمکۍ /
人质	يرغمال/يرغمل/ قيديان/هغه ۹ تنه اسرائيليان چې فلسطيني مبارزينو د يرغمل په ډول د ځان سره ساتلي و وژل شوي دي/ اوس خو مې نو په دې ملک کې ګذاره ګرانه ده/ احمد هغه يرغمل کسان چې دوی نيولي وو ، خوشي کړل/ د چا لاسونه يې تر شا تړلي او هغه يې يرغمل ساتلی دی/
人种，种族	نژاد/
仁慈	لورښه/کرامت: داسې ښکاري چې طبيعت د خپلې ښکلا يوه لورښه کړې وي/
仁慈的，慈爱的	عاطف/
仁政	نيک خواه حکومت/
忍不住大笑	زه له دې نه ځان نه شم ژغورلای چې دې خپله د پرک خندا ورته وکړم/
忍耐	صبر،حل / صبرول / زغمول / خودداری(د ځان ژغورنې سياست) /حوصله کول: حوصله هم د ځان د پاره حدود لري/ د صبر او زغم نه يې کار اخستی و/ له صبر او زغم نه کار اخله او ژر

	ژر قهرمه کوه/ هغه د تودوخې زغم لري/ دوی د خپلو کړنو په باب د نیوکو زغم نه لري/ په صبر او تحمل /
忍气吞声	یوه سترکه به مو ژاړی او بله به مو خاندي،دا کار به کوې،بله چاره مو نشته/
忍无可忍	د چا د صبر کاسه ډکه شوه/ نوره حوصله ورته پاتې نه شوه/ دوی د غیر انساني ځوروني او کړاو په اساس بې صبره شول او په پټه ډول پولیس ماموریت ته لاړل/ د صبر او حوصلې جام می مالامال (ډک) شو/ چې شمېرل یې د انسان حوصله ختمې / د ملت د صبر کاسه تر مورګو رسېدلې ده / نور یې نو د صبر کاسه ډکه او په عراق یې یرغل ورور/ نفس (ساه)پزې ته راتلل/ نفس سپوزمو ته راتلل / له دې کار نه خو مې نفس پزې ته راغلی دی / بې صبره/
忍住了	نژدې و چې له سترګو نه یې اوښکې وبهېږي،خو ځان یې کلک کړ/ په دې خبره باندې خلکو ته ډېره خندا ورغله مګر ځانونه یې کلک کړل او و یې نه خندل/
认出，识别，诊断	تشخیص/
认得	د هزاره جات په لار کې لوړې ژورې کندو کې پرې ډېرې او احمد ته نا آشنا وې /
认定有罪	محکوم علیه ګرځېدل/
认清	د چا د خوب رګ پېژندل/ د چا ښه پېژندل /
认清形势	اوضاع په پوره ډول درک کول/
认清嘴脸	د چا څېره له ورایه پېژندل /
认识	له دې لارې به د ایدز د ناروغۍ په باب د نړیوالې ټولنې معلومات اوچت شي/ له سره پېژندګلوي یا بلدتیا لري / زه تېر کال له چا سره آشنا شوم/ د چا پېژندنه/ زما له شیطان سره پېژندګلوي یې هغه وخت وشوه چې د کلي مولوي صاحب می ولیده/ د هېڅ یوې موسسې له چارواکو سره مې اړیکې او یا لږ تر لږه پېژندګلوي نه درلوده / داسې ځوک مې هم نه پېژندل چې د کومې موسسې د نظر وړ چارواکي ته ما ور معرفي کړي او سپارښتنه ور ته وکړي/ پېژندل/ له...سره بلد /
认识到	د فرانسې او بریتانیې حکومتونه دې تفاهم ته رسېدلي دي چې دوی د منځنۍ ختیځ د سولې په مقابل کې یو رښتیاني مسئولیت لري/که دغه اوضاع په پوره ډول او یا خوبیخی درک نه کړی شی خورا ستره سهوه به وي/ مونږ باید دا درک کړو چې.../ خلک وار په وار دې ته ملتفت شوی دی چې.../
认输	د څو ساعتیزه لوبې نه وروسته احمد مجبور شو چې ځان مات وشمېري /
认为	زمونږ نظریه دا ده چې.../ مونږ دا نظریه لرو چې.../ زمونږ په نظر... / زمونږ په عقیده... / د چا په اند / په دې حساب/ په دې نظر/
认为值得，予以尊敬	لورول/ګنل (ویې ګانه) /
认真	هر کتاب ښه په غور مطالعه کوي/ په دقت سره/په جدي ډول/
认罪	په خپل جرم اعتراف کول/زه په خپله ګناه معترف یم/
任何的	هغه وویل چې په هېڅ توګه به د سولې تر پلان لاندې د سینا په ټاپووزمه کې د اسرائیلو هېڅ ډول موجودیت نه مني/
任何人	هېڅ یو څوک هم بې استعداده نه دی/ بل هیڅوک ستا په ډول نه دی /
任何时候	وینا په هر لحاظه تر لیک رومبی او اصیله ده/ هغوی کولی شي چې د سیاسي زعامت په ټاکنه او انتخاب کې په هر وخت او هر ډول شرایطو کې خپل رول ولوبوي/
任何时候	هېڅکله/

任命，变动	د کادري بدلونه او ټاکنې/
任命的	نوی نومول شوی والي /
任期	د ماموریت موده/
任期结束	د ماموریت موده پای ته رسېږي/ د خدمت د دورې سر ته رسېدل/
任人摆布	د نورو د امرونو اطاعت به وکړي/ او د نورو په خم کې به رنګېږي/
任务	دنده/ وظیفه /
任意，随便	هڅه یې وکړه چې د خپلو غنمو بیه پخپل سر لوړه کړي/ځرغان په بالونو کې ځړېږي چې هغه پخپل سر په هسکه هوا شاو خوا ګرځي/ په خپل سر هېڅکله دواګاني مه خوره ! /
任用你	خیر دی، چوپ اوسه ، نور چا ته مه وایه ، تا به مقرر کړم / احمد د محرر په توګه په دنده وګومارل شو/
任重而道远	خو بیا هم منزل ته لا ډېره لار پاتې ده /
妊娠	حامله ګي/
reng	
扔	سوچ مې وکړ چې زه دې ماشومانو په کانړو ولی ویشتم ؟ / په ډېر قهر پنسل د چا پر میز غورځوي / پر چا د بوټونو د ویشتلو په اړه پېښه / جنګي الوتکو په افغانستان کې بمونه وغورځول /له اسمانه بمونه راوریدل /
仍然，仍旧	لا هم/تر اوسه لا هم/
ri	
日本，日本国	جاپان/
日薄西山	دا نظام مرګانی یا هغه لمر ته چې د غربي غونډیو تر شا لوېږي، ورته دی/
日不落帝国	ځکه انګلیس په نړۍ کې یو داسې طاقت و چې په نیول شویو ځمکو کې یې لمر نه ډوبېده /
日程	اجندا/
日出，太阳升起	لمر ختل/
日光灯（氖灯），霓虹灯	ګروپ/
日历	جنتري/
日落，日暮，黄昏	غروب/
日期	د هېواد د خپلواکی د بېرته اخیستلو د جهاد په دوران کې/ نیټه/ موده/
日食	کسوف/ لمر نیول/
日夜盼望	هغه څه چې خلک ورته شپې ورځې شمېري/
日以继夜	را ته شپه او ورځ هلې ځلې په کار دي/
日益	دغه ملاماتوونکې پېښه ورځ په ورځ د دروندوالي او ډېروالي په لور روان دی/ مګر په مقابل کې یې اخیستونکی کم او بیه یې له یوې ورځې څخه بلې ورځ ته راټیټېږي/ خلک چې ورځ په ورځ مخ په وینبېدو روان دي/ ورځ تر ورځې/ ورځ په ورځ / د ورځو په تیرېدو خرابېږي/
日用（必须）品	ضروریات/
日用家具，行李	اثاثیه/

日用品	د اړتیا وړ ډول ورځنی شیان (مالونه) /
rong	
绒毛	بنکه/
绒毯厂	د نازکو کمپلو جوړولو فابریکه/
荣获	افتخار/ ننګ/ قدر/ ناموس/ سرلوړی؛احمد د نوبل په جایزې وویاړل شو/ افتخار لرل/ اتحادیه په دې ویاړي چې.../ د ویاړ ځای دی چې.../ فخر کول/ د خپل وطن د ننګ و ناموس په خاطر/ هر انسان د خپل عزت خاوند دی چې نور خلک د هغوي عزت تر پښو لاندې نه کړي او درناوی یې وکړي/
荣誉称号	افتخاري لقب/
荣誉的，名誉的	ویاړي/ افتخاری/ سورمخ/
容光焕发	هر یوه خورا ښه کالی اغوستی دی او مخونه یې بریښي/
容量	حجم: دغه هېواد همیشه په خپله مالی پالیسی کې د لګښت حجم لوړ بیائی/د امریکایي عسکرو د بېرته ایستلو په حجم کې زیاتوالی راغلي دي/ ظرفیت: دریواړه هالونه پر یو وخت د ... کسانو د ځایونې او سمبالونې ظرفیت لري/
容纳	دغه ډګر د ... تنو ګنجایش لري/ پکې ځاېیدل /
容忍	افریقایي هېوادونه هغه کودتا ګانې نشي زغملی چې د منتخبو حکومتونو د راپرزولو لپاره سر ته رسېږي/
容易，轻易	آساني/
容易的，轻易的	آسان/
溶化	ویلي(کول/ کېدل): قند په اوبو کې ژر ویلي کېږي/ د انجماد ډېر یخونه ویلي کیدای شي/
融合	تا زما سره پوره راستي کړې ده /
rou	
柔情	د ښځو د رقیقو او لطیفو احساساتو محصول دی/
揉	مښل (مړي، ویې مښل) /
揉沙子	د ولس په سترګو کې خاورې نه اچول کېږي/
蹂躏	پایمالی/ ډېر ملکونه یې پایمال کړل/ افغانان به د نورو په خم کې رنګېږي/
肉，鲜肉，肉类	غوښه/
肉博	تن په تن / برچه په برچه چنګېدل / د غلیم سره لاس په لاس جنګېږي/ لا س په لاس نښته / زه له دښمن سره ټټر په ټټر جنګېدلی یم /
肉多的，胖的	غوښن/
肉桂	فلوس/
肉类	د حیواناتو غوښې/
肉麻	احمد پر چا پسې داسې لیکنې کولې چې په هېڅ توګه یې د قلم عفت نه مراعاتاوه / په فلم کې په داسې ډول چې د چا زړه تري بد ېږي د فاشیستانو ستاینه شوې وه/
肉丸子	کوفته/
肉刑	چا ته بدني جزا ورکول/
肉汁	قورمه/

ru	
如潮	مستې څپې را پاريدلې دي/
如此一来	په دې توګه/
如果我是你们	که زه ستاسې په ځاى واى/
如何	د کار د څرنګوالي د بيانولو په ترڅ کې بې د چا پوښتنو ته ځواب ووايه/ يو شمېر وکيلانو حکومت ته د اعتماد د رايو د ورکولو د څرنګوالي او په دې باره کې چې د هغو جريان به څه ډول وشي، خپل نظري څرګندې کړلې/
如获至宝	لکه چې يوه ډېره قيمتي ذخيره يې موندلې وى/
如饥似渴	هغه د کتابونو لوستلو ته وړې ناست دى/
如能...非常高兴.	نور دې وخت نه نيسم ، خو په پاى کې د خپل ژوند يوه خوږه خاطره را ته بيان کړې، خوشحاله به شو/
如丧考妣	ايا دا څنګه کېداى شى چې د دوى زړونه و نه خوړېږى او پرېشان دې نه شي؟/
如同白昼	ژر يوه بله برېښنا وشوه چې د تورې شپې نه يې سپينه ورځ جوړه کړه/
如意算盘落空	د فلانى دغه د خپل زړه په خوښه (زړه خوښى) حساب بيځايه و/
如愿以偿	خو زما أرزو په دغه برخه کې تر سره نه شوه/ د چا غمجن زړه سوړ کزدل/ آرزو ته څان رسول (تر سره کول) / دوى خپلو أرزوګانو ته رسزېږي/
如坐针毡	د پښو پر سر ناست/
茹毛饮血	هغه وخت ډېرو اوسيدونکو يې وانښه او انسانان خوړل او د وحشت په غېږه کې يې ژوند کاوه/
乳房	تى/
乳腺癌	د تى سرطان/
乳制品	لبنيات/
入超	تجارتي بيلانس ډېر نامساعد/
入海	په هغه ځاى کې سيند ونه په بحر ورګډ ږېږي/ د يانګځه سيند په مخرج کې/
入伙	په تاراج او تالا کې برخه اخيستل/
入境随俗	هرځاى ته چې لاړ شى، نو د هغه ځاى د رسم و رواج پابندى کوي/
入库	څو مليونه افغانى راټولى کړى شوې او خزانې ته تحويل شوى دى/
入联公投	په م م کې د تايوان د غړيتوب تر لاسه کولو ټولپوښتنې/
入伍	ځوان يې په عسکرى صفونو کې ودرول/
褥子	نهالى او بالښتونه راوړل شول/ لاندستون/
ruan	
软，柔和，柔软性	پوستوالى/
软饼	پراټه/
软的，柔和的，温和的	نرم/ پوست/
软骨病	د هډوکي کوږوالى: ډېر کوچنيا د هډوکو د کوږوالي په نارو غتيا مبتلا وليدل شول/
软化	ښايي دا حقيقت د امريکا په مقابل کې د طالبانو په دريځ کې نرمى رامنځته کړې/

软件	نرم‌زیرمیز/ سوفت‌ویر/
软禁	احمد د ده په کور کې تر څارنې لاندې دی/بېشماره یې داسې دي چې پرې د یو ځای نه بل ځای ته د تلو پابندۍ دي/د یوه چا په ګرځېدو باندې بندیزونه اینبودل/ نظر بند: پاکستان پر چا نظربندی وغځوله / احمد په خپل کور کې نظر بند دی/ بیګانه ملک ته یې واستوه ،هلته یې نظربند کړ/
软弱，无能为力	عجز/
软弱的	عاجز/
软弱无能	کمزوري او ناتوانه(فکرونه) / د حکومت سستوالی او ناغړی / وزر سوځل/ وزرونه سوځل/ کمزوری کېدل / عاجزی بنکاره کول/ جرات نه کول / د حکومت له شرم ډکې سستی / علاقه ځینې وخت‌ډیره ځواکمنه‌او شدیده‌وی ، خو استعداد بیا کم‌واکه‌او هېڅ وي /
软体虫	چینجي/
软心肠的	د نرم‌زړه څښتن/
软饮料	غیرالکولی مشروبات/
软硬兼施	که چیرې مونږ د دښمن د پستو او زیږو چلونو په مقابل کی یې دفاع پاتی شو/څوک هم میخ وهي او هم نال /
rui	
锐不可挡之势	په داسې قوت سره چې د مقاومت‌وړ نه‌دی/
瑞典	سویډن/
瑞士	سویس/
run	
润滑油	روغنیات/ګریس/
ruo	
弱的，软弱的	ضعیف/ناتوانه/
弱点	کمزوری‌تکی /
弱肉强食	د ضعیف‌غوښه قوی خوري /
弱视	کمزوري نظر / په سترګو عاجز/ په سترګو کمزوري /

sa	
撒	نوستل(نولی،ویی نوست) / د ګلونو ډک موټی یې پر چا وشیندہ چې.../ دوړول/ شیندل: دا هسی په زخمونو مالګه دوړول دي/
撒气	بچ کول/
撒药灭虫	د مضرو حشراتو پوپنا کول/
洒，洒落，撒，播撒	نثار(کول) /
洒落，撒落	تویدل/
sai	
塞尔维亚	صربیا/
塞进	هغه څه چې د پلانی له خوا په دغه فیصله کې په پټه ډول داخل کړی شوی/
塞满的，挤满的	ټاپی ټاپی/
塞浦路斯	قبروس/
腮腺炎	باغوټ/
赛出风格赛出水平	په مسابقو کی خپل سپورتي سبک او غوره مهارت څرګند کړ/
赛马	د آسونو مسابقه/
赛区	د بیجینګ په مسابقوي ناحیه کې / مسابقاتي ناحیه /
赛诗会	په کابل کې د نارنج د ګل مشاعره وشو / هغه پښتو او دری اشعار او آثار چې په دغه مشاعره کې لوستل شوی دي، د یو کتاب په ډول به چاپ شي/
san	
三	دري/
三八国际妇女节	د مارچ اتمه نېټه د زحمتکښو ښځو نړیواله ورځ/
三大领主	د جایدادونو او ملکونودری ډولو خاوندانو یعني د ارتجاعي محلي حکومت، فیوډالی معبدونو او اشرافو له خوا/
三分之二	دوه ثلث/ له دریو برخو څخه د دوو برخو په اکثریت تصویبدل/ د یوې مهمې مسئلې په حیث وګڼله شي او د رایو په دوو ثلثو تصویب شي/ هر تجویز باید په شورا کې د دوه ثلثو حمایت ترلاسه کړی/
三分之一	ثلث/
三级火箭	د دري مرحلې راکټ/
三级跳远	دري قدم لیرې ټوپ وهل/
三驾马车	د دولت دري ګونې قواوې /
三角形	مثلث/
三角洲	دلتا: دغه د مواد رسولو کربنې د میکانګ ل دلتا د شمالی ویتنام سره ننبلوي/ د میکانګ په دلتا کې سختې جګړې د درندو تلفاتو باعث ګرځیدلی دی/
三权	د دولت دری ګونه قواوې/قضائیه قوه/تقنینیه قوه/اجرائیه قوه/
三十年河东，三十年河西	نن پاچا وي او سبا ګدا /

三思而行	تا باید د کار په سر کې دی موضوع ته فکر کړی وای/
三峡	د یانګ ځه سیند د منځنۍ برخې درې تنګي/
三弦	سریند غږول/
三者	درې واړه/
三座大山	د امپریالیزم، فیوډالیزم او بوروکرات کاپیتالیزم چې د دریو لویو غرونو په شان وو ترستم لاندې/
伞兵部队	د چتر بازانو قواوې/پاراشوتي عساکر/
散步	قدم وهل/
散步，游玩	هوا خوري/
散发	توزیع:نیالګی بزګرو ته توزیع کول/
散发异味的	بوین/
散开，传开	خواره کېدل/
散开，驱散	تیت او پرک/ هره خوا ښندلی/ بې نظمه او بې سلیقه / له مظاهرې وروسته خلک هرې خوا ته تیت او پرک شول/
散开，打开	خپرول/ خپرېدل/
散乱	پر میز ځینې دوسیې او کاغذونه تیت او پرک ښکاري/
散乱的，心神恍惚的	پریشان/
散落，落叶，下降，落下	رژېدل/
散文诗	منثور اشعار/
sang	
桑葚干	تلخان: د توتو څخه جوړ شوی وچه میوه/
嗓音	حنجره/
嗓子疼	د ستونی درد/ انګین/
丧尽天良	دی دومره په زړه کا پر دی چې پخپله غلطی پوهېږي، خو سره له دې بې هم کوي/
丧礼	بدرګه. د مړینې په وخت کې د مړي کورنۍ لخوا ورکول کېږي/
丧气的，胆小的，怯懦的	بې زړه/
丧生	تراوسه بې د ... عراقیانو د ژوند ډیوې ګل کړی دی/
丧失	د ولسي ډېره برخه به د رای ورکولو له حقه بې برخې شي/ سلبېدل/
丧失殆尽	سیاسي شعور دومره ټیټ او اراده داسی شله شوې ده چې.../
丧失劳动力	د کار له طاقت څخه لوېدل/
丧葬费	د جنازې لګښتونه او ترتیبات بې د دولت له خوا برابرېږي/
丧钟	د مرګ زنګ ووهل شو/
sao	

骚动	د چا دغو اقداماتو په المان کې غوغا جوړه کړې ده/ د غونډې برخوالو یو څه بغاوت وکړ او په خپلو منځو کې سره وبونګبدل /
骚乱	تاوجنه پیښه/
骚乱的	د دغه ایالت کړکیچنو سیمو ته /
扫，打扫	جارو کول/
扫除	له منځه وړل/
扫荡	د محوه کولو عملیات / په خپلو محوه کونکو عملیاتو یې لاس پوری کړ/
扫地	زه هر څه ته تیار یم ، که هغه د دفتر جارو کوم ،هم وي /
扫进垃圾堆	دوی په خپله د تاریخ د کثافاتو خوا ته جارو شول/
扫雷	د هند مربوط ټیمونه د پاکستان په نیول شویو سیمو کې له نقبونو نه ددغو سیمو په پاکولو بوخت دي/ د مینونو پاکول/ دوی به په دغو هېوادونو کې د مین پاکۍ عملیات سرته ورسوي/ نقبونه لیرې کول/
扫雷艇	نقب ټولوونکې بېړۍ/
扫盲	بې سوادي له منځه وړل/ د سواد زده کولو کورس/ د خلکو باسواد کول/
se	
色彩	رنګینی ، رنګ/
涩	ژبه زیږه ده /
sen	
森林大火	په ځنګلونو کې د اور له امله... وژل شوي دي / اورلګبدنه /
森林的，荒野的	ځنګلي/
森林火火	په ځنګلونو کې د اور مړ کول/
seng	
僧侣	بودایي راهبان/
sha	
杀，杀害，屠杀	قتل/
杀虫剂	کوم وخت چې له یو شمېر حشراتو څخه خبر شی، نو بزګران د ویالو په کیندلو ، د حشره کش په خپرولو ، د حشراتو په چاپېر کولو او خښولو لاس پورې کوي/
杀害	احمد ناڅرګندو سړي وژونکو شهید کړی دی/ خون کول/ یو څوک وژل / احمد دري خونه کړي دي یعني احمد دري تنه وژلي دي/
杀鸡焉用牛刀	دچرګ حلالولو لپاره د غوا وژلو ساتول ته ضرورت نه دی /
杀菌	میکروبونه وژل/
杀戮	د چا په قیمت یې یو بل ته کشت و مات ورکاوه /
杀人犯	وژونکی/خونی/قاتل/ په وه خطرناک غله په یوه کور کې د غلا په وخت کې مړی وکړ او وتښتېد/ د یوه ځوان دری تنه قاتلان په بند محکوم شول/ خوني سړی: احمد یو خوني سړی

	دی /
杀死	که به چپري د اخلاف غږ پورته شو ، د ژوند ډیوه یې ګل وه/
杀头	یا یې سرونه ځني غوځ شوي /
杀一儆百	په یوه ځپیړه ډېر مخونه خوږېږي/
沙发	کوچ /
沙拉	سلاد / سلاته/
沙漠	دا هېواد یوه برخه څړ ځایونه، ورشوګانی او شګلنې دښتې لري/ د هغه هېواد د شګلنو سیمو په جنوب کې پرته ده/ د ګوبی دښته/ صحرا/
沙漠的，野的	صحرائي/
沙盘	یو ډول ځانګړی میز دی چې د ځمکې د لوړوالي او ټیټوالي نظام د معلومولو لپاره کارول کېږي/
沙沙声	کښهار/
沙土地	شګلنې ځمکې/
沙眼	تراحیم / تراحم کوکره/
纱丽	یوې پیغلې چې آسماني ساړی یې اغوستې وه ، په نرۍ او خوږ اواز لکه د سیتار نغمه ځواب راکړ/
刹车声	د موټر د بریک غږ پورته شو /
傻瓜	احمق: احمد چرچرک او احمق دی/
煞费苦心	ډېر ابرونه او دردونه یې په ځان ګاللی و تر څو چې خپلې ځیرې بدلې کړي/
shai	
筛，过滤，选出，择出	چانول/
晒	تخم ته لمر ورکول/ هلکان د سیند غاړې ښکو ته لاړل ځانونه یې په لمر ښه تاوده کړل/ په لمر وچول یا په لمر کې اینبودل/ تر پله لاندې یې کالی لمر ته اچولی و /
晒黑了脸	د لمر د تودوخې په اثر د هغه مخ پوټکی تک تور شوی دی/
shan	
山	غر(غرونه،غره) /
山顶，山峰	غاښ/
山岗，小丘	غونډۍ/
山谷，山口	دره/ غاښی/کوتل/
山洪	سیلاوونه را کښته کېږي/ د سیلاوونو د راکښته کېدو په اثر د ځاني او مالی زیانونو سبب شوی دی/
山梁（坡）	د غره په ډډه کې/ یو شمېر شیلی او خوړونه د سپینې غره له پراخو ډډو څخه سرچېره اخلي/
山炮	غرني توپ/
山坡，草地，原野	راغ/ دامان/
山坡地	د غره د لمنې ځمکه /
山树	نښتر /
山水相连的	دواړه هېوادونه د غرونو او سیندونو په واسطه سره نښتی دی/ نژدې ګاونډیان چې ګ

	غرونه او سيندونه لري/
山体滑坡	غرونه ښوئېدل/ د غره د يوې برخې د رابېلېدلو د پېښې په نسبت/ هغه د غرونو د ښوئيدو په اثر مړ شو/
山鹰之国	د غرنې باز په عنوان هېواد/
山雨欲来风满楼	وايي چې کله د برج په دننه او دباندې کې باد ولګېږي، نو باران له غره څخه ورپسې دی/
删掉	هغه پراګراف چې په... پورې اړه لري، ټول هيسته غورځول شوی دی/
删改	تعديلول او ترميمول/
珊瑚	مرجان/
煽动	دوی د سيمې خلک د خپل دولت پر خلاف بغاوت ته راپاڅوي/ مخالفانو د فرصت څخه په استفاده سره د امريکا پرضد د خلکو د احساساتو په پارولو پيل وکړ/
煽风点火	د اوسنې جګړې اور ته لمن وهي/ خو زياتره يې د جنګ جګړو لمبو ته پکې وهي/ هغوی د قانون اوګمرکی لايحو پر خلاف اداری فسادونو ته لمن وهي/ تفرقې ته لمن وی ،ته لمن وهی ، اورونه بلوي او دغه اور ته بيا ببوزي وهي/ د چا په اشاره د خلکو ترمنځ مذهبي اورونه بلوي/
闪电攻击	د هر ډول نوی او چټکې حملې د ترشا وهلو په غرض يې خپلې مسلحې قواوې تيارس کړی دی/ پيښخدمت د برق په شان ورته رارسېدلی و/
闪光，放光	ځلېدل/
闪光，闪电，电	برېښنا/
闪闪发光的	ځرځې سترګې/
闪烁，发光，出现	بريښېدل/
闪耀	ستاسو د مېرنيو خلکو په څېرو کې تل د هېواد د تاريخ په ټولو دوروکی د رښتينولی او اخدت نور ځلېدلی دی/
善，善良，善事	نېکی/ احسان/ مهرباني/
善待，对待	له... سره ښه سوک کول/
善恶	خير او شر/
善良的	ښه نيت لرونکې هيله / دوی په ډېره پېرزوينه دغه درانه بار ته اوړه ورکوي / مهربان/
善行，善良，平安	خير(په خير سره) /
善意	د دغې خوښې او له پېرزوينو ډکې ترانې لوستل/
善意的批评	سالمه نيوکه/
善于	په قابليت سره / دی د شعر په ژبه د يوې صحنې په تمثيل کې مهارت لري/ په...کې تکړه او سېدل/
擅自	په خپل سر
赡养费	خپله کورنۍ به وريادە شوه چې ټوله نفقه يې دده په غاړه ده /
shang	
伤	زخم/ژوبل/زخمي/ټپي/پرهر/ په دغه پېښه کې سربيره په دی چې په لاس او پښو مو ټپونه واخيستل، سر مې هم خوښېږي/ هغوی سپک ټپونه اخستي دي/ سخت پرهر يې واخيست/ ژوبلول/
伤风，流清鼻涕	د ژمي په موسم کې د ځان د ګرم نه ساتلو په صورت کې موږ ته ريزيش زکام، توخی او

	داسی نور امراض پېښېږي/
伤寒	تیفوس / محرقه / لویه تبه
伤口	ټپ/جراحت/پرهار/قرحه/
伤情	د زخم حالت/
伤亡	مرګ ژوبله / تلف/ چې چا ته مرګ ژوبله نه ده اوښتې/ سیلابونه راووتل او خلکو ته یې د سر او مال درانه زیانونه واړول/
伤心	زړه مې شین شو/ غمونو مې زړه شین کړ/ د احمد له لاسه مې د پر زړه شین شو/ نن مې زړه تنګ شو/ کله چې یې زه بیا د ماتم په باره کې فکر کوم، دا مې له زړه وینې څڅوي/ له...څخه خوابدی کېدل /کړاو (کړاونه) / خواشیني/ خلک د خپلو خپرونو له لوستلو زړه توری کوي/ زړه سوی/
伤愈	ټپ یې ژر روغېږي /
商标	د تجارت نښه / تجارتي نښه / د صنعت نښه/ د تولید اتو نښه/
商店	مغازه/دکان/پلورنځی/
商定	دواړو حکومتونو د مشورې له لارې فیصله وکړه چې.../
商队，驼队	قافله/ کاروان/
商会	د سوداګرۍ اطاقونه/
商量，咨询	مصلحت/
商品	مالونه او اجناس/ تجارتي مالونه/ متاع/
商品粮	تجارتي غله جات/ هغه غله جات چې د خرڅلاو په غرض تولید ېږي/
商品流通	د امو الو چلند /
商榷	دا احصاییه د نور غور او تامل وړ دی/
商人	تجار/ سوداګر/
商讨	تاسې په خپل منځ کې سلا وکړئ چې چېرته درس ووایئ؟/ چا ته مشوره ورکول/
商务参赞	تجارتي مستشار/
商业的	تجارتي/ سوداګریز/
商业交易	سوداګریزې معاملې/
商议，忠告	(چا) ته مشوره ورکول (کول)/
墒	وتره مځکه/
赏钱	پلانی په دې هیله چې د خپلې کارنامې په عوض زیاتې پیسې بخښش اخلي/
上	دوي ورودانګل/ توپ وهل/ بیا یې د تعلیم میدان ته ورودانګل/
上班	د مامورینو حاضري د سهار له اتو بجو څخه شروع کېږي/
上半年	د سږ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې/ د کال په لومړۍ نیمه کې/
上边，顶点	زبر/
上边的	برنی/
上车	دوی له مسافرینو سره اورګاډی ته د پورته کېدلو او له ستیشن څخه د وتلو په وخت کې مرسته کوي/
上刺刀！	برچه پک/
上窜下跳	په صحنه کې بې پرتوګه ښځې او لنګ اغوستې نارینه ښکته پورته کېږي/ احمد اوس لا هم د بشري حقونو تر پښو لاندې کولو ته په برګ اتن لګیا دی/

上当受骗	زه ډېر ډاډه يم چې ډېر خلک به په دې چال چلند خطا نه وزي/ د چا په غوړېدلی دام کې بندول یا ښکیلول/ احمد پرې فریب وخوړ/ فریب خوړل/
上帝保佑	خدای دې وکړي چې... /
上吊	ورور یې غواړي ځانته زندۍ واچوي /ځان په کوم تیر پورې غرغره کوي/
上颚	پورتنۍ زامه/
上方	برنۍ برخه /
上访者	مراجع(مراجعین): د مراجعینو د لالهاندی د مخنیوي په مقله/
上钩	کب په چنګک کې ونښت(ښتل) /
上海舞蹈学校	د شانګهای د نڅا ښوونځی/
上将	ډګر جنرال/
上缴	تحویلول(دولت ته د مالیاتو تحویلول) / تحویلېدل/
上街游行	ښاریان کوڅو او سړکو ته راوتلي دي / مظاهره کول /
上空，领空	د چین د خاورې د پاسه/ د قلمرو د پاسه / د اردن د هوایي کرښې الوتکو ته د خپل فضایي قلمرو ځخه د تیریدو اجازه نه ورکوي /
上了岁数	خو اوس راباندې عمر زیات شو ، نشم کولی چې.../
上面的，上边的	پاسنی/ پورتنی/ نومورې/
上任	دنده په غاړه اخیستل / دنده یې په غاړه اخیستې ده/ منظوري لا نه ده راغلې/ د دغه مامور منظوری راغله/
上山下乡知识青年	د هغو تعلیم یافته وځلمیانو مربوطې چارې چې غرني سیمو او نورو کلیوالو سیمو ته تللی باید ښه تر سره کړو/
上市	دغه صنعتی پروژې د هغو پروژو له جملی ځخه دی چې په کار یې پیل کړی دی او تولیدات یې بازار ته ایستل شوی دی/ فلم د کره کتنې وروسته نندارې او بیا بازار ته وړاندې کېږي /
上诉	مرافعه/ محکومینو د مرافعی حکم هم منلی نه دی او تمیز طلب شوی دی/ هغه د لومړۍ محکمې په حکم قناعت نه دی کړی او مرافعه یی غوښتې ده/ د عالي استیناف د عبارت دیوان/کولی شی چې د تاوان د تر لاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي/ د استیناف محکمه/
上台	د چا لاس ته قدرت ورغلی دی/ قدرت په لاس کې نیول/کله چې هغه واک لاس ته راوړ/ واک ته د مجاهدینو له رسېدو راوروسته/که طالبان واک ته ورسېږي.../
上网	ډیزاین یې د بل چا په کمپیوتر باندې مورډ خپله کوو او انټرنیټ ته لاسرسي/کمپیوتر ته کینې او له انټرنیټ سره ونښلی ، هره ورځ پنځه ساعته انټرنیټ کاراوه/
上尉	لومړی بریدمن/
上无片瓦下五立足之地	پر ځمکه یې سیوری نه درلود او پر آسمان یې ستوری نه لیدل کزده/
上校	ډګروال/
上学	د سهار له خوا خپل ښوونځی لولم/په مکتب کې داخل شوم/ بیا مکتب شروع شو/په کابل کې مې رسماً مکتب ولوست/ نجونې او هلکان زده کړه کوي/
上衣	کورتۍ یا کورته/
上瘾	د مخدره مواد و په استعمال سره یو معتاد انسان د خپلې کورنۍ آن د یوې ټولنی د غړیو پر اوږدو باندی یو ستر پیتی وي/ په جال روږدېدل/ په انټرنیټ روږدېدل/ روږدی کس/

	رو ږد بدنه /
上映	فلم يې ننداري ته وړاندې کړ/
上油，染色	رنګول/
上游，中游，下游	د سيند په پاسنۍ برخه کې/ منځنۍ برخه/وروستۍ برخه/
上院，参议院	لوړ مجلس / د مشرانو جرګه / د سنا مجلس/
上战场	زما پلار له دوو وروڼو سره ستاسو جنګ ته درودانګل چې بيا شهيدان شول /
尚未	هغوی ټول تر هغه وخته پورې نېنه زلميان وي چې واده يې نه وی کړی /
尚武，强悍的	پښتون قوم يو باتوره قوم /
shao	
烧柴	د ونو لرګي د سوزولو لپاره ګټه اخيستل/
烧焦	يوه ښځه په اور کې سستی پرته او د بدن ۵۰ برخه يې په اور باندې کباب شوې ده/
烧伤	سوی /
烧胃	معده جوش دی/
烧夷弹	اور بلوونکی بم/
稍事停留	په چين کې تر لږ تم کېدو وروسته/ هيئت کابل ته د راستنيدو په وخت کې لږ دمه وکړه او بيا يې د يوه اوږد سفر دپاره چمتو شو / احمد افغانستان ته د تګ په لار کې په تهران کې لږ تم شو /
稍微	که لږ په تفصيل سره د ... معلومات راکړئ ، خوښ به شم/
稍息！	ازاد ! /
勺子	کاچوغه /
少	کموالی/
少不更事，不知好歹	احمد په ښو او بدو دومره نه پوهيده /
少的，很少的，不多的	لږ/
少将	برید جنرال/
少数的	لږکی ځانګيزې/
少数民族	ملی اقليت/ ملي لږکي/ حکومت په پارلمان کې د لومړۍ وار لپاره په اقليت کې پاتې شو / په لږکيو سيمو کې/ د ملي اقليتونو په سيمو کې/
少尉	دريم برید من/
少校	جګړن/
哨兵	ګارډ/ پيره دار/
哨所	تاڼه\ د دې سيمې د جګو غرونو په څوکو کې له پخوا زمانو څخه تر اوسه پورې ډيرې تانې شته/ دا تانې د قاچاقو په مخنيوی کې ډير ښه رول لري/ د ترصد مرکز/ تهانه/
哨位	د اسرائيلو توپچی پوځونو د لبنان د عسکرو په څوکيو باندې ډزې وکړې/
she	
奢华	تجمل/ تجملي ځيزونه (استعمالول) /
舌	ژبه /
蛇头，头头	د دوی د کار او زيار عايدات هميشه د خرکار کمپ سرغنه اخيستل /

舍己救人	هغه د موټر یوې سپرلی ته د نجات ورکولو لپاره ځان د موټر ټیر ته واچاوه او د خپل ژوند په قیمت یې نورو ته نجات ورکړ /
设备	د سمنګانو عامه کتابخانه په عصری سامان او وسایلو پرانستلو ته چمتو ده/ د اورګاډی د پخوالي ستیشن تجهیزات ساده وو / الکترونیکي وسایل / مخابراتي وسایل / د راډیو افغانستان د تجهیزاتو برابرول /
设防	سنګر وهل/
设计	د پروژې د ډیزاین او جوړولو ټول کارونه د چینایي انجنیرانو او کارکوونکیو په واسطه سر ته ورسېدل/ نقشه جوړل (طرح کول) / تولیدات د خپل ډیزاین له معیار نه هم اوښتي دي/ډیزاین(کول، کېدل) /
设计师	نقشه طرح کونکی/
设计能力	طرح شوی طاقت/
设立	د ... منځته راوړل/
设施	نظامي تاسیسات/ دوبری به په متحده ایالاتو کې د خپلې استوګنې په موده کې د امریکا یو شمېر نظامي تاسیسات وګوري/ د اوبو لګولو تاسیسات او سیستمونه یې وکتل/
社会，协会，学会	ټولنه/
社会保障	ټولنیز تضمین/ د صنعتی موسسو د کارګرانو د اجتماعی تامیناتو لپاره/
社会的	ټولنیز/ اجتماعي/
社会的建设	سوسیالیستي آبادي/
社会调查	د ټولپوښتنې له مخې /
社会风俗习惯	د ټولنې دود/
社会公正	ټولنیز عدالت/
社会活动	اجتماعي(ټولنیز) فعالیت/
社会学家	ټولنپوه /
社会与文化委员会	د ټولنیزو او فرهنکي چارو کمېته/
社会主义	سوسیالیزم /
社会主义现实主义	سوسیالستي ریالیزم/
社会主义新农村建设	د نویو سوسیالستي کلیو آبادول/
社会主义运动	سوسیالیستي غورځنګ/
社会主义制度	سوسیالستي نظام/
社论	سرلیکنه/ سرمقاله/
社区	د استوګنې سیمه/
射击	چاند مار کول/ ویشتل/ احمد په ماشه ګوتی کیښودلی او په لیوه یې ډز وکړ/ له خلکو څخه غواړي چې د چا پر ضد پاڅون وکړي او هغوی په ټوپک وولي او د هغوي ټانکونه والوزوي /
射击运动	د ننبې ویشتلو سپورت/
射箭	تېر انداز (تېر اندازې) غشي ویشتل/
射精	انزال/
射门技术	د شوت کولو تخنیک/
射手	ننبې ویشتونکی/

涉及	جرم د هر چا خپل ځانی شی دی/ د تورن تعقیب ، نیول ، توقیف او سزا ورکول بل هېڅ چا ته نه ورغځېږي/ پر ... پورې تړاو لرل/
赦免	بخښل/ ولسي جرګه د چا بخښنه غواړي / د مجازاتو بخښنه / د جزا بخښل/ البته کړای شی په عادي جرمونو کې د محکوم د جزا پاتې موده وبښي / حکومت هڅه وکړه چې احمد بخښنه وغواړي / د جزا کمول او بخښل/ د کودتا کوونکو جرمونه به وبخښل شي/
摄氏	سانتیګراد/
摄像师	فلم اخستونکی /
摄影测量	فوتوګرافیک سروی/
摄影机	فلم اخیستونکی کمره/ د سینما کمره/
摄影记者	فوتو راپورتر/
摄影师，照相师	عکاس/ فلم اخیستونکی/
摄政王	صدراعظم د سلطنت د مقام د وکیل په حضور مشرف شو/ د سلطنت وکیل/ احمد د پاچا د مسافرت په موده کې د سلطنت د چارو وکالت کوي/
shen	
申请书	غوښتنلیک/
申诉	تورن کولی شي چې محکمو ته د خپل وکیل له لارې مراجعه وکړي /
伸长，拉长，躺	غزېدل/
伸出	احمد له خپلې شړې پښې ډیرې پسې وغځولې /له خپل ټغر څخه پسې ډېرې غځولې وې /
伸手	صدام د د یوه دیکتاتور په بڼه پر واک خپلې منګولې ښخې کړې وې / احمد د ولایت پر څوکې منګولې ونښلولې/ لاس اوږدول/
伸手不见五指	دومره دوړې شوې چې په څلور او پنځه مترو کې یو کس بل نه شو لیدای/
身份	هویت: د عراق پیلوټ چې تر اسه یې هویت ندی څرګند شوی.../ دا د ملي هویت یوه نه بېلېدونکې برخه ده/ که یو ملت ملي بانک نوټونه ونه لري، نو ملی هویت به یی هم نیمګړی وي/
身份证	د هویت کارت/ تذکره/ تابعیت پاڼه /
身高，身材	قد/ جګوالی/
身价	خپل وقار اوچت ساتل/
身肩重任	د دین او دولت په حساب اخته یم /
身临其境	د تلویزیون په پرده کې به سړی ټول تاریخي مناظر په داسی ډول وویني لکه دی چې پخپله پکې موجود و/
身强体壮	دوی باید جسماً غښتلی وي/
身首异处	احمد یې په ستوني چاړه تیره کړه او د هغه سر یې له تنې پرې کړ/
身体，躯体	جسم/ وجود/ بدن /
身体，人，位	تن/
身体，四肢	اندام/
身体，自身	ځان/
身体的，肉体的	فزیکی /
身体欠佳	روغتیا مې ښه نه ده /

身心发展	د ماشومانو د ذهنی او انکشاف د پاره/
身心健康	جسمي او روحي روغتيا/
呻吟	ناله/زګيروی/انګهار/انجکه/کله کله به يې له خولې رګپروي راوتل / د احمد د درد خفيفه ناله په دغه فضا کې خپرېږي/ زګروبدل/
绅士，文明	چا چې به په فرانسوي خبرې کولې ، نو ځان به ورته ډېر اشراف او متمدن ښکارېده/
绅士家庭	د ښاغلو کورنيو ځوانان/
深奥	دا يادداشتونه په داسی سختو او مبهم الفاظو ليکل شويدی چې څوک يی په ريښتيانی مفهوم نه شی پوهېدلی/
深仇大恨	خلکو د ...له تيری کوونکو اقداماتو څخه سخته کرکه څرګنده کړه/ د استبدادي نظام سره يې په زړه کې ترخه کرکه او نفرت دی/
深翻（耕）土地	ځمکه ښه پخه اړول ښه يوې کول/ ښه اړول /ژوره وهل/ ځمکه ژور يوی کول/
深呼吸	احمد په ژور تنفس سره بحري هوا راکښله/ ژور تنفس کول/
深切的遗憾	مونږ بې له دې چې په دې باره کې خپل ژور تاسف څرګند کړو ،نور څه نه شو کولای/
深入到...	شوروی بيړې حتی د هوکاپدو څخه شپږ ميله رااوښتی وی/
深入地	د دغو هېوادونو د خلکو مجادله له بيخه انکشاف کوي/ د خلکو مجادله خپلې ژورتيا ته انکشاف ورکوي/
深入群众	په ژور ډول د خلکو سره يو ځايښت غوره ګڼل/
深入人心	بتهوفن وايي: موسيقي د فکر له چيني راڅاڅی او د زړه په پردو کې ننوځي/ هغه شخصيتونه چې د خلکو په زړونو کې يی ځای نيولی دی/
深山	په لېری او ګوښی غره کې/ ګوښي او بيوازې پاتې غرونه/
深山老林避难	نو ډېرې کورنۍ دې ته اړ کېدې چې لېرې پرتو دښتو او غرونو ته پناه يوسي/
深受国内外欢迎	د ظريفو صنايعو او هنري شيانو هرکلی هم دننه په هېواد کې او هم په خارج کې شوی دی/
深思熟虑	د سنجيده او پخو ګامونو پورته کول/ له پوخ او ژور فکر څخه کار اخيستل/
深夜	تر پخې شپې پورې/
深渊	دوی به يا ځالونه له دغو حالاتو سره برابروی او يا به د تاريخ کندې ته لوېږي/ په ولس کې يې د غوسې او انتقام ګندې راپورته او هېواد ببرته د جګړو کومې ته تيل واهه/
神采奕奕的	ښاغلی تاچر د يوه نوراني سړی سره راننوت/
神出鬼没	هغوی په ډېر مرموزانه تاکتيک له دښمن سره مقابله وکړه/
神乎其神	فلانی په عجيبه او معجزه توګه داسی باتی ووهلی چې... /
神经	عصب/ خپل اعصاب بيخی له لاسه ورکول/
神经病	روحي ناروغي/
神经错乱	تورپيکی د اعصابو د افتلال په علت خپل ځان پخپله وژلی دی/
神经的，神经质的	عصبي/
神经科	عصبي سرويس(ځانګه)/
神经科大夫	د عقلي او عصبي ناروغيو متخصص/
神经衰弱	د اعصابو ضعف/
神经系统	د اعصابو جهاز/
神经战	سادات په امريکا باندې تور ولګاوه چې د مصر په خلاف يې د اعصابو يوه جګړه شروع کړې ده/

神了!神奇，怪了!	طوفان کول/ ډېر عجب او د حیرانتیا وړ کارونه یا خبرې کول/ بلا کول / مثلا احمد پرون په مسابقه کې طوفان وکړ (بلا وکړه) /
神秘的，奥妙的	د لوی هند خاوره په هسې مرموزه او عجیبه بڼه په دوو برخو ویشله کېږي/ مرموز عناصر / په مرموز ډول/
神明	رب=خدای/ یا ربه !یعنی اې خدایه !
神圣不可侵犯的	دغه قاعده مقدسه او د تېرې وړنه ده/ مقدس او فسخ نه کیدونکی /
神往	خو ، سره له دې هم هېڅ شی زما سد دومره له سره نه وو بیولی لکه د دې کوتې ښکلا او د دې باغچې زړه وړونکی منظرې !/
神志不清的	سودایي/
审查	د مطبوعاتی موضوعاتو د تدقیق لپاره یوه نوی اداره جوړه شوه/ تر تدقیق لاندې نیول/ د چا پلټنه کول/څېړنه/
审查委员会	د اساسي قانون د تدقیق کمیسیون/
审核	کره کتل/
审理案件	د پېښو یا قضیو سپیناوی /
审判	د قاضیانو عالی محکمې اوه تنه قاضیان چې په قضایي تخلفاتو تورن ومحاکمه کړل/ هغه د ... د وژلو په تور په ...محکمه کې تر محاکمې لاندې نیول شوی دی/که نه نو د نظامی حکومت له مقرراتو سره سم به محاکمه شي/ د قضیو یا پېښو سپیناوی/ محاکمه: هغه وویل چې مجرمین به محاکمه شي / ملت به اړ شي چې د ټولنیز عدالت په موخه د محکمې دروازې وډبوي/ هغه وخت به هم راورسېږي چې دوی محاکمه کړای شي/ګڼې د عدالت دروازې به ټک ټک کړای شي/ په جنګي جرمونو کې ښکیل او ککړ اړخونه باید محاکمه کړای شي/ دوی اوس ویرېږي چې ممکن یوه ورځ به نړیوالې محکمې ته کش شي / عاملین به یې د ابتنو او پوښتنو لپاره محکمې ته ټیل وهل شي/
审判机关	قضایي ارګانونه/
审判台	د پېښې جنایتکاران به د محاکمې میز ته وکښل شي/
审判席	احتمال لري چې هغوی د محاکمې میز ته هم راکاږي/
审讯	له چا څخه د پوښتنو ګروېږنو په ترڅ کې بندیان وهلي او ډبولي دي/
审议	هغوی به ټولې هغې مالي او تجارتي مسئلې چې په دواړو هېوادونو اغېزه لري وسنجوي/ د تدبیرونو د سنجولو لپاره / د منشور سنجش / په منشور باندې غور کول / دغه مسئله دې د څېړنې لپاره د امنیت شورا ته ولېږل شي/ تر سنجش لاندې راوستل/ پر...غور کېدل/
肾	پښتورګی / بلډوډی/
肾结石	د پښتورګو تیږی/
甚至	آن دا چې.../ حال دا چې په دغو ولایتونو کې نیم په نیمه پښتانه ژوند کوی او آن له نیمو هم زیات دي/ حتی/ آن له دغسې فرصتونو څخه خبرېږي هم نه / آن تر دې چې... / افغانستان د نړۍ د پرمختګ له کاروانه په لسیزو او آن په پیړیو شا ته پاتې دی/
渗透，渗漏	د ویالو څخه څمکې ته د اوبو د نفوذ مخنیوی/ پرون یې هغه نظامي کمپ ته نفوذ وکړ او د وسلو یوه ذخیره یې وچاودوله/ په ... باندې نفوذ موندل/ هغوی د کاتولیکانو په ګڼو ځایونو کې نفوذ وکړ/ پکې د نفوذ پیدا کول/ نفوذ ټول/ خپل نفوذ خپرول/ قندي مواد د وینو رګونه خوشی کوي /
渗透者	نفوذ کوونکی/

sheng	
升	ليتر/
升旗	ملي بيرغ او چتول(رپول) /
升起	لمر څرک وهي/
升起的	راختونکی/
升值	د افغانيو ارزښت به ورځ تر ورځ لوړتيا وموميِ/
生病	رنځور: مور مې رنځوره او ناجوړه ده /
生产成本	توليدي مصارف يې کم کړل/ د محصولاتو د توليدولو مصرفونه يې کښته کړی دی/
生产关系	توليدي روابط/
生产过剩	امريکا د اضافي توليداتو په منګل کې ګيره ده / توليدات يې د اړتياوو په نسبت ناوړه زياتوالی ښيئ/
生产建设兵团	د PLA د توليد او ابادۍ يو نټونه/
生产力	توليدي قوې/
生产率	د توليد موثريت لوړول/
生产能力	د توليداتو ظرفيت / د شرکت عمومی توليدی قدرت زيات شو/
生产潜力	د توليداتو پټ استعداد/
生产线	د ماشين جوړولو ۱۵ کرښې اتوماتيکي شوې دي/
生产增长	د توليد وده/
生产指标	دغه فابريکه خپله توليداتي هدف ته ورسېدله/
生产资料	د توليد وسيلې/
生产资料所有制	د توليدی وسايلو مالکيت/
生的，不熟的	اوم(اومه ، اومې)، خام/
生动的	د نوي پرمختګ يو ژوندی ښکارندوی دی/
生动的例子	ژوندۍ بېلګه/
生根	د هر چا په مغزو کې د مينتوب زړی ريښه زغلولې ده/ په دماغونو کې يې ريښې نه دی ځغلولی/
生孩子	ولادت/
生化武器	بيلوژيکي او کيمياوي وسيله/
生活	ټول انسانان په يو ټولنيز چاپېريال کې هستوګنه کوي/ ژوند کول/ ژوند و ژواک / د دوی ګذاره خو ډېره سخته ده / ګذاره = ژوند/ځه منګور خو نه يم چې په خاورو وپائېږم/ د سړي ژوند يې اوبو نه پائېږي/ پلانی د احمد په کور کې پائېږي/
生活必需品	د دوی د خوراکي شيانو او ورځنيو ضروري اړتياو تر خونه جګ شوی دی/ غلی د خلکو د ژوندانه له احتياجاتو څخه ګټل کېږي/ د اړين وړ ورځني شيان / د ورځني ژوندانه د اړين ور شيان/
生活规律	تاسې بايد هڅه وکړي چې ستاسې ناروغ مرتبه وضع ولري يعنی په خپل وخت ويده شي/
生活还有什么乐趣	د ژوندون به څه خوند وي/
生活垃圾	په ژوندانه کې رامنځته شوې ککړتياوې/
生活水平	د ژوند سطح/ خلک د ژوندانه د معيار تر سطح لاندې ژوند کوي/ د ژوند د کچې لوړول د

	نشه يې توکيو د توليد په مخنيوي کې تر ټولو اغېزمنه لار ده/
生活用品	سامان(آلات)/
生活资料	د ژواندانه وسيلې /
生火	دغه سړی اور بلوي / لمبه کوي /
生机勃勃	ترو تازه/
生理过程	جسمانی جريانات؛فيزيولوژيکی جريان/
生理现象	فيزيکي او جسمي وضعه/
生灵涂碳	زمونږ غوښتنه دا ده چې نور د افغانستان مظلوم ملت په غوښو زهر و نه دوړوي /
生命，生存，生活	حيات/
生命力	هغه د ژوندانه فعاليت نه ډکه قوه څرګندوي/
生平	د چا په ژوندينې د هغه په ياد سيمينار/ ژوندليک/ ژوند پېښې / بيوګرافي / اتو بيوګرافي/
生气	احمد په ورځو ورځو خبرو ژر خپه کيږي. په ډير غصب وويل. له څخه قهر او کرکه کول/ له دې سړي نور هم اريان او لږ څه په غوسه هم شو / له ما نه مه خفه کيږه/ د چا خبرې احمد په قهر کړ/ آيا احمد د خپل ملګري په دې چلند په غوسه دی ؟ / د ... څخه خپه دی/ زه به خپله سيند درباندز يخه کړم/ خلق تنګی/پريشانی/ خوابدی/
生气勃勃的	دغه ښار د انرژی او فعاليت نه ډک دی/
生气的，愤怒的	غوسه ناک/
生气地	په تريو تندی /په قهر يا په غصه /
生前	هغه ټولې چې شهيدان د ژوند په وخت پکې وو /
生人	نابلد/
生日	نن شپه زما تولدی جشن دی/تولدی ورځ/
生死搏斗	د ژوند او مرګ تر منځ مجادله/
生死线上	خلک د مرګ او ژوند ترمنځ د مجادلې شپې ورځې تېرې/
生态的	ايکولوژيکی /
生态环境	د ايکولوژيکی محيط د ساتلو په غرض/
生态建设项目	د چاپېريال د ساتلو پلان/
生铁	چودنه: د چودنې لوښو د جوړولو صنعت/
生我气	ته ولې پر ما دومره په قهر يې ؟
生物	ژوندی پيدا ينښت/
生物，万物，生灵，被创造的	مخلوق(مخلوقات) /
生物的	بيلوژيکی/
生物学	بيالوجی ډرايور مجبور شو چې سمدستي له بريک څخه کار واخلي/
生效	نافذ پدل: د قانون نافذ پدل/فيصله د دوی له منښت نه پس نافذ ګڼل کېږي/ نوموړی موافقه به بيخي او ډېر ژر نافذه او تطبيق شي/ د واده نوی قانون نافذ شو/ د قانون له الفاذ وروسته / د دې قانون احکام په رسمي جريدې کې د خپرېدو د تاريخ نه ۹۰ ورځې وروسته نافذ ګرځي/
生涯	هغه ځان د فاشيستانو غېږې ته وروا چاوه او خپل مرتجع شغل بېې شروع کړ/

生意的利润	د خلکو د کار و بار ګټه وټه /
生硬，顽固的	دوی وچ مذهبي دریځ لري/
生育	ولادت،ښځینه کارګره د ولادت په وخت کې/
生殖，繁殖	توالد و تکاثر / د انساني توالد لړۍ /
生殖器	تناسلی الات/
生卒	د زوکړې او مړینې نیټې /
声波	ږغیزه څپه/
声称	پترسن ادعا کړی چې په سوک وهلو کې یې ورځ په ورځ ترقي کړې ده/
声东击西	خپله دغه ریاکاری یې چې په ختیځ باندې د حملې کولو چیغې وهلې دي ، په دا سی حال کې چې په لویدیځ باندې حمله کوي، په کار واچوله/
声名狼藉，名声扫地	آن د چا له بد نامه ولو څخه هم دریغ و نه کړ/
声明，公告，宣言	اعلامیه/
声势浩大的	په یوې لویې او سترې مجادلې لاس پورې کول /
声嘶力竭	په څیرو پیرو آوازونو سره نارې وهي/
声讨	د یوه چا په جنایتونو باندې تهمت ووایه او هغه یې وغندل/ ملامت کول / د ... فاشیستي سیاست یې تهمتی کړ /
声响	کړپی = کړپا: پیاله مه کړپوه ! د کوتې کړکی کړپی کاوه /
声音	آواز/غږ: د څنځیر شرنګار / په ټول ښار کې د ډزو او ټکانو ازانګې کولې/
声誉	حیثیت/ اعتبار/
声援	ملاتړ: اخلاقی ملاتړ/
声张	تصمیم مې نیولی دی چې له کوم شور او زورِ څخه پرته تاسې وباسم او دغې وضعې ته خاتمه ورکړم/
牲畜	څاروي/
牲畜群	د حیواناتو ګله /
胜负	څوک سوبمن شو ، چا ماتې وخوړله / دا جنګ به غالب او مغلوب و نه لري / د هغو امتیازاتو له مخې چې هغوی لاس ته راوړل/
胜利	بریا / بری /بریالیتوب/ سوبه/ کامیابي/
胜利，征服	فتح (یا فتحه) /
胜利的，成功的	بریالی/
胜利的喜悦	د چین خلک په دا سې خوښۍ سره چې د خپلو بریالیتوبونو په اثر یې حاصله کړې تېر کال یادوي/
胜利者，征服者	فاتح/ غازی/
胜于	پر چا پهلوان کېدل/ پر چا زور ورکېدل/ پر چا غښتلی کېدل / مثلا احمد پر محمود پهلوان دی /
绳之以法	هغه باید د قانون منګولو ته وسپارل شي/ له ملي خاینانو سره باید قانوني چلند وشي/ د کومې پېښې جنایت کاران به د محاکمې میز ته وکښل شي/ له دې پرته به دوی له قانوني چلند سره مخامخ شي/ چا ته قانوني سزا ورکول/
绳子	سیم/ پړی زیږ او تیز دی / رسۍ/ وانبکی/
省	ولایت/

省长	والي/
省议会	ولايتي شورا/
圣诞节	عيسوي اختر/ د کرسمس يا عيسوي اختر ونه/
圣地	دوی د بامیانو د ولایت تاریخي آثار او آبدات وکتل/ د سپیځلو ځایونو ساتنه/مقدس ځای/
圣人	د بې وسلې کولو دغه طرفدار روحانیون/روحاني شخصیت/
圣战	جهاد: نعره يې وکړه: الله اکبر جهاد او غزا کوو /
圣战者	مجاهد (مجاهدين) /
盛会	دا د اسیا د سپورټ په تاریخ کې یوه بې ساري ستره غونډه ګڼل کېږي/
盛开	ګلان په زوره غوړیږي/
盛况	لویه پیمانه اوښه حالات/
盛名之下其实难副	حقیقت له لوي عنوان او شهرت سره برابر نه دی/
盛气凌人	باید چې هر څوک آمرانه چلند ونه لري/ احمد به له ډېره کبره لکه د چتکي په څیر پښې اسمان ته نیولې وې او اسمان به يې په پښو ټینګاوه/
盛水的皮囊	د اوبو ژی/

shi

尸布	کفن/
尸体	مړی/ جسد / د مړي جسد / لاش/ جنازه/
失败	چا ته ماتې ورکول/ هر یو چې په ځمکه راوغورزید ، پهلوانی يې وبایلله او ماتې يې په برخه شوه/ د ده دا مینه مورِ ته ډېره ګرانه تمامه وه ځکه چې د لوبې بایللو وروسته به مو یوه هنداره روغه نه پاتې کېده/ د خو دوی برلاسی نه شول/ ناکامي/
失败者	د ناکامانو په ډله کې وشمیرل شوم او په مات زړه او نهیلی به کور ته لاړم /
失地	د لاسه ورکړه شوی عربي خاورې د بېرته لاس ته راوړلو مجادله/
失调	بې انډول کېدل/
失掉联系	خو وروسته په ډېره اوږده بېلتانه مو تماس سره وشلېد /
失眠	بې خوبې/ زما خوب ناکاره دی (خراب) / احمد ته خوب نه ورته /
失去，丢掉	ورکېدل/ د چا نه ګډون د جرګې ارزښت پر ځمکه راوویشت / بایلل/
失去儿子的女人	بوره/
失去战斗力	د عراق څو ټانکونه او شپږ کنډکه عسکر يې له فعالیته غورځولی دی/
失去知觉	مورِ بې هوښه شو /
失望	هغوي ناهیلي ، مایوسه او ویرجن ښکاري / وزارت دا سې سلوک کوي چې هغه خلک زړه توري کړي او دغې خوا ته هېڅ و نه ګوري/ زه پخپل هېواد پسې آرمان نه کوم ، ولې چې.../ تاسې به هرومرو ناهیلي شي (نهیلي) / احمد ډېر پرېشانه شو او د بې روزګارۍ مهلک سمندر ور ته د عقل ترانګې وشلولې او د امیدونو بیړۍ يې ورغرقه کړه / نه ، نهیلي نه یم /د خپل پلار په مړینې ناامیدي له ځانه سره مل نه کړه / نا امیدي/
失望地	ناامیدانه/
失物招领处	ددې لپاره چې ورک شوی شیان خلکو ته بېرته ورکړه شي ، د ورک شویو شیانو د ساتلو ځای شته/

失效	د اضطرار د حالت له ختمېدو سره جوخت هغه ټول اقدامات له اعتباره پريوځی (له اعتباره غورځېږی) /
失信，食言	په خپل قول او لفظ باندې بې وفايي ښودل / يو شی بايد ټينګ په غوږ کې ونيسئ او هغه دا دی چې پر قول به نه خيژئ/ د خپلې خبرې څخه به نه ګرځي/ امانت ځمکه نه خيانتوي /
失业	سلګونه ملیونه انسانان د کار رښتې له نشتوالي ځوږږي/ بې روزګاري/بېکاري: څرنګه چې نن سبا بې روزګاري ډېره سخته ده ، نو .../
失业者	د دې پروژې په کار اچولو سره يو شمېر بې روزګاره افغانانو ته د کار زمينه برابره شوې ده/ وزګار يا بې کار کسان /
失重	ښايي د کيهاني ببرې د دريو تنو کيهان نوردانو مرګ د بې وزنې د حالت څخه راپيدا شوی وی/ په هغه مدار چې تيتوف يون کاوه نو ده خپل وزن بيخي د لاسه ورکړی و /
失踪	دري تنه حکومتي عسکر وژل شوي او يو تن تري تم شوی دی/ ورکېدل/
师	فرقه/
师长	د فرقه مشر/
诗	شعر /
诗抄	د اشعارو منتخبات /
诗集	ديوان/ د اشعارو ټولګه/ د شعرونو مجموعه /
诗人	شاعر/
诗一般，诗意的	د شاعر د شاعرانه فکر په زړه پوري څرګندونې پکې شوې دي/
施肥	خړوبول/ د واشيندل او د کيمياوی سره استعمال/کيمياوي سره ځمکوته ورکړ شوې وه/ د تخم د اندازې دوه چنده سره بې واچوله/
施工	دوی د داسې لويې څا د طرح ، عملياتو او تجهيزاتو چارې په خپله اجرا کولی شی/
施加压力	پر...باندې فشار اچول/ پر چا فشار راوړل/ احمد پر چا فشار ډېر کړ چې محمد له خپلې خاورې څخه وباسي/
施加影响	ملک فيصل کولی شی چې په امريکا کې خپل نفوذ په کار واچوي څو په اسرائيلو باندې زور واچوي چې... /
施舍	د مړي خيرات / يو سړي خيرات کړی و . کله چې خيرات تيار شو ، نو.../ خير او خيرات/
施舍物	خيرات/
狮子	زمری(زمرې يا زمړيان) / د برید له امله د دې لويې پيشو سترګه ژوبله شوه/
湿	لمدی/
湿的，湿润的，潮湿的	خيشت/ لوند /
十二指肠	دوولس ګوته کولمه/
十进位的	د انګلستان مروجې پيسې د اعشاری په سيستم باندې بدل کړی شوی/ په اعشاري حساب باندې د پوند د اجزاوو ويشل/
十年，年代	لسيز (په وروستيو لسيزو کی) /
十亿	ملیارد/
十字军战争	صليبي جګړه يا جنګ/
十字路口	شينجيانګ د اروپا او آسيا په تقاطع کې واقع دی / د لارو تقاطع/ځلور لاري/
什么，哪一个	څه/کوم /
什么原因	دا څه وو چې د دوو ملګرو ترمنځ يې اوبه خړې کړې او ان خبره مرګ ژوبلې ته ورسېده؟ /

什叶派	طابان سني مذهبه او د شعيه مذهب مخالف دي/
什一税	د عشر او زکات په نامه له خلکو څخه غوښتنې کېږي/
石榴花	ګلنار/
石器时代	د ډبرې دورې انسانانو دې کلي ته نژدې ژوند کاوه/
石头	تیږه/ډبره/کانی/کمره: له غره څخه ډبرې کمرې را ارتای شوي وې/
石油产品	نفتي مشتقات: د اومو نفتو څخه نفتي مشتقات حاصلېږی/ الجزایر فرانسې ته د هغې د ضرورت وړ نفتي مواد و رسولو ته دوام ورکوي/ د نفتي موادو د اخصاراتو ریاست/
石油武器	عربو د نفتو څخه د یوې وسلې په توګه په استفادې کولو لاس پورې کړ/
石子，碎石	ځینې واټونه چې پخوا هوار شوي او جغله وربانديې اچول شوي ده اسفالت شوي دي/ د دې لارې په ۷۵ کیلو مترو سړک باندې لاد مخه کرېږ اچول شوی او هوار شوي دي/
时不时	او شېبه شېبه د ګډونوالو لخوا په تودو چکو بدرګه کېده/کله نا کله / دم په دم/ وخت نا وخت/
时代	پیر/دوره/زمان/زمانه/عصر(اعصار)/
时光如梭	وختونه ژر تېرېدل/وخت ګړندې ځغلېده/
时机	که موقع برابره شوه، نو دا کار به وکړم/ اوس يې موقع نه ده/ هر کار په خپله موقع کېږي/ دوی به دا کار د غوره شرایطو په صورت کې وکړي/
时机不当	د هغه په نظر د ښارواليې نو موړې فیصله پر وخت نه ده/
时间	د ورزشکارانو د نمایش د شروع کېدو ساعت په راتلونکي وخت کې خلکو ته څرګند ېږي/ زمان/مهال/وخت/
时间表	مهال ویش/تقسیم الاوقات/
时间的	مهالی/
时刻	په دغه موضوع باندې پوهېدل په هره ګړۍ کې خلکو ته سختېږي/ په دی معین زمانې مقاطعو کې/ معین یا تاکلی/ مقطع یا وخت/ ژوند شېبه په شېبه او ګړۍ په ګړۍ تغیر او بدلون کوي/ موږ باید هره شیبه هغې جګړې ته چمتو او سو چې په موږ تحمیلېږي/
时髦，时尚	مود/فیشن/لوکس/
时事	اوس به د روانو حالاتو په باره کې خبرې اترې واورئ/
时速	د توپان چټکتیا په یو ساعت کې... مترده/
识别	تمیز کول/ په دی خلکو کې هېڅ تمیز نشته/ زه ددې دوو رنګونو په منځ کې هېڅ تمیز نه شم کولای/
识破	دوی به دغه دسیسه ښه بربنده، رسوا او ماته کړي/
实话，真情，真理	حقیقت/
实际的，实践的	عملي/واقعي/
实际上	واقعاً/عملا هېڅ صلاخیت نه لري/عملاً یې لاس له جرمونو نه دی لنډ شوی/
实际行动	په واقعی فعالیتونو سره/ د خپلو عمل اقداماتو په واسطه/
实践	عمل/تمرینات/عملي کار/
实况转播	جریانات یې د رادیو افغانستان په واسطه د ولسي جرګې له تالار څخه په مستقیم ډول خپرېدل/ د بیمینګد هوایي ډګر لنډ مراسم د فضایي بیړۍ له لارې په ژوندی ډول سره د جاپان په تلویزیون کې وښودل شول/
实力政策	د زور او قدرت سیاست/

实施	تطبيق/ تحقق/
实事求是	دغسې رويه له واقعيتونو څخه د ماهيت لټولو معنی لري/ له واقعيتونو څخه ربښتيا لټول/
实习	شاګردان د ښار دباندې تجربې کوي/
实习生	ستاژر(ان)/
实现	زموږ د ملت انکشاف او ټينګتيا د اوږدو مجادلو په ترڅ کې صورت نيولی دی/ د انسان ارزوګانی پر ځای کول/ آرزو لاس ته راوستل (تر سره کول) آرزو ته ځان رسول/ د خپلو مقصدونو د علمي کولو لپاره / هغه دا قدرت لري چې خپلې دغې آرزو ته د عمل جامه واغوندي/ دغو اهدافو ته د تحقق ورکولو په غرض/ رامنځ ته کېدل/ د چا قسم ربښتيا او پر ځای کېدل/ ربښتيني کول/ د دې هيلې د ترسرايني لپاره/ترسره کول/ سر ته رسول/ د پرمختګ موخې پلې کول/
实行，执行，支付	ادا(کول)/
实在	دوی حقيقت خوښوونکي دي/
实在的，真正的，现实的	حقيقي/
实质上，本质上	له آره/
拾麦穗	نارينه لو کړی او ښځی يې ورپسې وړی ټولوي/
拾取	ناڅاپه مې سترګې په يوه عکس ولګيدلې چې د لارې پر سر پروت و. عکس ته ورټيټ شوم او راپورته مې کړ/
拾穗	د وړو ټولوي يا راغوندول/
食不裹腹	چا ته د مزدوری او غريبی سره سره په مړه ګيډه ډوډی هم نه وررسېده/
食品	خوراکي شيان/ خوراکي مواد / ارتزاقي مواد / غذايي مواد / غذا/ خواړه/ خوراک/
食堂	خوراکخونه/ ډوډی خوړنځی/ طعام خانه/
食物中毒	غزايي مسمومیت/
食盐	سوډيم کلورايډ/
食用油	د خوراک وړ نباتي غوړي/ غوړي/
食欲	اشتها ورکېدل/ غزايي خواهشی/هضم/
食指	بونده ګوته/
史前	ماقلالتاريخ/
史诗	حماسي قصې/ حماسي ډرامه/ رزميات او حماسيات/ ده د شاعری په لومړی مرحله کې حماسی شعرونه ويل/
史无前例	سارې نه لرل/ بې سارې/ د تيلو د بيې بې مخينې کميدل او سخته ګرانی دا ټول هغه عوامل و چې د شوروي په رنګبدو کې يې رول درلود/
使成为朋友，陪伴	(له چا سره) ملګرتيا کول/
使变成	اسرائيل هڅه کوي چې لبنان ته د دوهم اردن بڼه ورکړي/ درويشت کلنی جګړې زمونږ ګران هېواد په کندواله بدل کړی دی/
使惭愧，使丢脸	شرمول/شرمېدل/
使出席	...ته حاضر کول/ځوک په... کې حاضر دی/
使大白于天下	په ډاګه کول/
使得	د دغه بدلون په نتيجه کې د هېواد په ټولو برخو کې د وګړو اقتصادي حالت د بحران

	سره مخامخ شوی دی/ په نړۍ کې هېڅ قدرت مصر دی ته نه شي مجبورولی چې اسرائیلو ته امتیازونه ورکړي/ دوی کوشش کوي تر څو محلی خلک دې ته اړ کړي چې خپل وسلې کېږي... /
使得合法化	څه شی ته قانونی بڼه ورکول/
使低下，使降低	ټیټول/
使对未来充满希望	آیندې ته مې امیدواره کړ/
使发玎玲声，撞击	ټنګول/
使放心，安抚	ډاډ ورکول/
使分离，隔离	بېګانه کول/
使锋利，磨	تېزول/
使复活，使复苏	احیا(کول) /
使公开，查明	څرګندول/
使馆	سفارت/
使害怕	بېرول/
使坚强，使稳定	ثابتول(ثابت یې کړ)/
使坚硬，使坚固	ټینګول/
使节	په کابل کې د اوسېدونکو کور دیپلوماتیکو ځینې مشرانو پکې برخه اخیستې وه/
使尽全力	هغوی ډولونه دومره په زوره وهي چې یې د لاسه کېږي/څومره چې یې توان و ، په هغومره لوړ غږ په کورهار شو/
使劲地	احمد په قهر وزی او دروازه په زوره تړي /
使惊奇	په تعجب کی اچول /
使均衡，供应	برابرول/
使忙于，使从事	مشغولول/
使命	دواړه سړی د اردن د شخړو په باره کې ګډ ماموریت لري/ خپل ماموریت سر ته رسول/ د ځوانانو رسالت/
使陌生	پردی کول/
使难看，使不快，使受窘	سرګردانول/
使平均，弄匀，使一样	یکسان/
使平坦，展平，铺开	آوارول/هوارول/
使平坦，弄直，纠正	سمول(سم یې کړ)/
使其更有效	د حقوقو د ښیګڼې په منظور/
使软化	نرم کول/
使同意，令满意	راضي کول/
使痛苦的，苦恼的	خوږمن/
使弯曲，使卷曲	تاو کول/ تاوول/
使完备，完结	بشپړول/
使为难	د نورو لپاره مزاحمتونه پیدا کول/

使稳固，证实	ثابتول/
使无结果，破坏	شنډول/
使鲜明，显示出来	جوتول/
使陷于，忙于，迫使	اړ ایستل/
使相信	دی بروازد نړۍ ټول خلک معتقد کړل چې مونږ پر خلکو باور لرو/ور باندې باور نه لري/ معتقد کول/
使用	دنباتاتو تولید او حمایه داسې موضوع ده چې ځینې جنبې یې په ټبلا ټبلو وختو کې د FAO له مرستو څخه مستفیدې شوي دي/ په خپلو ژبو کې د لیک لوست او استفادې له حقوقو څخه محروم پاتې وو/ استعمالول/کارول/ باید پر عراق د زور نه کار وا نه خیستل شي/ سنت کول/ د درنو وسلو په کارونګ سره/
使用价值	د استفادې وړ ارزښت یې دومره دی/
使用武力	له زور نه استفاده کول، کارول/
使震动，震撼	لړزول/
使转向	(... ته) اړول/
使坐下，让坐下，栽种（植物）	کښېنول/
始末	زېږنده او پایله/
始终不渝	امریکا به تر پایه له افغان ولس سره ولاړه وي/
驶过	ټانک په ډېرې تیزۍ سره له دې ګڼې ګوڼې تېر شو/
士兵，战士，军人	سرتیری/ عسکر/
士官	کوچنی ضابط واړه ضابطان/
士气	د لوبو په جریان کې نندارې کوونکو د زرغونې لیسې د ټیم د غړیو د روحیې کمزورۍ کولو لپاره د پوهنتون ټیم تشویقولو/ عسکري مورال یې کمزورۍ کوي/ جنګي روحیه/
世纪	پېړۍ/ قرن/ سلیزه/
世纪坛	د چین د زریزې څلی/
世界	نړۍ/جهان/دنیا/
世界大战	نړیوال جنګ/
世界儿童基金会	د نړۍ د ماشومانو صندوق/
世界货币基金组织	نړیوال وجهې صندوق/
世界纪录	جهاني ریکارډ/
世界粮食计划署	نړیوال خوراکي پروګرام/
世界人权宣言	د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه/
世界石油大会	د نړۍ د نفتو کانفرنس/
世界银行	نړیوال بانک/
世上无难事，只怕有心人	په دنیا کې هېڅ مشکل نشته خو چې سړی زړه ورته غټ کړي/
世世代代	نسل پر نسل/ د دې لپاره چې د چین او جاپان ترمنځ دوستانه روابط د نسلونو لپاره انکشاف وموميږ.../
世俗的	غیر روحاني/ عرفي/

世袭	د افغانستان پاچا يې د نادرشاه په کورنۍ کې له يو نه بل ته پاتې کېږي/
世袭制度	د ميراثي واک سيستم/
市长	ښاروال/
市场	مارکيټ/ بازار/
市场经济	د بازار د اقتصاد نظام/ د بازاري اقتصاد نظام/
市民	ښاري اوسېدونکی/ ښاريان/
市区	د ښار د اوسېدلو په سيمه کې/ نکاح خط د ښاروالیو په منطقو کې د محکمې له پلوه ور کول کېږي/
市政府	ښاروالی/
市政工人	د تعميراتو کارګر/
市中心	د ښار مرکز/
示范表演	د زراعتي سامانو او لوازمو د فني استعمال صورت د هرات يو شمېر خلکو ته وښودل شو او يو ګڼ شمېر خلکو د هغو د استعمال صورت وليد او له هغو څخه د استفادې په لار پوره شول/
示威游行	لاريون/ مظاهره/
示威者	لاريون کوونکی/ مظاهره کوونکی/
事，事情，工作	کار/
事后诸葛亮	د پښتو متل دی چې وايي: ای وروسته عقله، کاشکی ته ړومبی وای/
事情，事件，事故	پېښه/
事实	رښتينوالی/ حقيقت/ واقعيت/ حقايق/
事实胜于雄辩	حقايق د ډېرو لفاظيو په نسبت ښه تر اخلانده دي/ حقيقت د بحث او مباحثې مولود دی/
事态的发展	خلک اخبارونو او راډيو ګانو ته متوجه دي او د دغې پېښې د انکشاف انتظار باسي/
事务，事情	دا د کور مشر دی چې د کور اداره او کار و بار ورپردی اړه لري/ په خپل کاروبار بوخت دی/ دوی بايد د کوکنارو د کرکيلی پر ځای نور کاروبار او روزګارته مخه وکړي/
事物	څيز/ شی/
事先	دوی حق لري چې د دولت د مخکنۍ اجازې نه پرته ټولنه وکاندي/ انګلستان بايد د فلسطين له ټولو برخو څخه د خپلو وتلو اراده مخکی ترمخه مربوط کميسيون ته څرګنده کړي/ هر يوه به لا د وخته د کب نيولو ځای د ځان د پاره په ننبه کړی و/ مخکې له مخکې/
事业追求	امانی دولت د يو مساوی الحقوق اوسېدونکي په توګه د ستم نه د ښځو د ژغورلو انساني داعيه پيل کړه/ د دې لپاره چې د اسلامي هبوادو مطبوعاتي چارې انکشاف وموميء/
事业单位	اداري يونټ/ حکومتی ارګان/
事宜	د دوو لويو وچو تر منځ د همکاری د پياورتيا د لارو چارو په باب به بحث وشي/
事与愿违	د انتظار په خلاف/
侍酒者	ساقی/
势力范围	د نفوذ د حوزو لاس ته راوړل/ د نفوذ سيمه/
视，眼界	بينا/
视察	له...څخه کتنه کول/
视错觉	د سترګو او نظر فريب/

视觉，视力	د باصرې حس / د سترګو نظر / د سترګو دید یې له لاسه ورکړ / د لیدو قوه کمه ده/د سترګو کمزورتیا/
视神经萎缩	د سترګو د اعصابو انقباض/
视死如归	که څه هم صدام د ظالم په توګه ژوند وکړ، خو مرګ ته یې په درنښت او وقار غاړه ورکړه/
视网变形	د سترګو د شبکې حالت بدلون/
视网膜炎	د سترګو د شبکې التهاب/
视为畏途	په همدې سبب د ښمن زموږ اساسي سیمو ته له ننوتلو څخه په ویره کې دی/
试点	د ګټو د ولایت په یوه نمونه منطقه کې ازمایښتي کارونه هم د دې پروژې د هدفونو له مهمو جنبو څخه ګڼل کېږي/ په کوهدامن کې د کریدت او کرنې د کوپراتیف پروژې د نمونې په ډول تر اجرا لاندې نیولی شوې دي/
试金石	محک: نو ټولنیز شرایط د یوه محک حیثیت لري/ د محک ډبره /
试生产	د دې فابریکې د جوړولو کار او مونتاژ به د ۱۲۵۳ کال په نیمایي کې بشپړ شي او په امتحانی تولیداتو به پیل وکړي/ راتلونکو ورځو پورې په نوموړی کانال کې په ازمویښتي ډول اوبه جاري کېږي/
试验	د برګسون خبره به په عملي ژوند کې تجربه کړو او په لابراتوار کې به یې تطبیق کړو/ تر ټولو نوې وسلې په افغانستان کې وازمویل شوې / ازمویښت(ازمایښت) /
试验田	دولتي فارمونه هم د نوي قسم تخم د کرلو او عاملو لپاره ځانته تجربي ځمکې لري/ تجربوی ټوټې/
试一试	بیا به په انتخاباتو کې کاندید شی؟ خیال کوم چې یو ځل بیا دغه ازموینه وکړم/
试制成功	په ازمایښتي ډول بریالی سر ته رسول/
室外招待客人的场所	حجره/
拭目以待	په خلاصو سترګو کتل/ وګورو چې دوی به د عمل په ساحه کې څه ډول اقدامات وکړي/
是…还是	د وسلو ټولول که د نویو وسلو بیا وېشل/ زوی دې ناجوړه و ، که دې لب سرین په کور کې هیر شوی وه ؟/
是…什么亲戚关系	د...چا څه کېدل/
是的，对	هو/
是否	د دې افساني حقیقت او نه حقیقت تر نن ورځې پورې ما ته په پوره اندازه نه دی معلوم/ سره دا فیصله کوي چې حاصلات به ښه وي او که یه او اوبه دا فیصله کوي چې ایا فصل به شین وی او که یه/
是块料	سړی خو د کار سړی دی /
是时候，正当时	که جهاد کوئ ، دغه یې وخت دی /
柿子	خرمالو/
柿子饼	د پومبی دانی کنجاړه/
适当的，得当的，相称的	مناسب/مقعول/
适得其反	خو نتیجه یې له مقصد سره مخالفه وه/
适合的	پر... د تطبیق وړ دی /
适量	د اندازې له پلوه معتدل او متوسط /
适时地	په خپل وخت/

适应	د ابوټونه د منډې چالاکۍ او د غړه د وضعیت سره ښه مناسبت لري/ تجارتي موسسې ناچاره دي چې خپل تجارت د نړۍ د مارکیټونو له غوښتنو سره سم کړي/له.. سره سمون لرل، خوړل/
适应生活	انسان ورو ورو خپل مزاج پر دغو اوضاعو برابروي/
适用于	پراطلاق(کېدل) / د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کېږي/
适中	اعتدال/
逝世	له دنیا څخه یې سترګې پټې کړې/ څوک وفات شو،له دونیا څخه ولاړ،له دونیا څخه سترګې پټې شوې/ مړینه/
释放	احمد د اوولسومیاشتو وروسته له بنده خوشی شو/ څو تنه ایله شوي دي / د اسیرانو خلاصون ، ازادیدل/احمد چې کله له زندان څخه راخلاص شو، نو .../ و یې غوښتل چې زندان دې وترڅې او بندیان دې پرېښوول شي / احمد له زندان څخه راخلاص شو/
嗜好	په رښتیا چې د ده پیرزوینه په ځان باندې ډېره لږه وه، خو بخیل ورته نه شم ویلې/ احمد د هېڅ شي متعاد نه دی/
shou	
收	اخیستل/
收场	لمن به ټوله شي/ امریکا د ترهګرو پر ضد جګړه یوازې د هوایي ځواک په کارونه راټوله کړه/
收成，收获	حاصلول/حاصلات/
收到	د لوی اختر د مبارکۍ پیغامونه مو چې ستاسو ما ته رالېږلی وو راورسېدل/
收放机	راډیوګرام/
收复，收回	پښتانه د خپلې دغې واکمنۍ د استرداد لپاره همیش له انګریزانو سره په جګړه وو/ دوی به د امبارزې تر هغو کوي څو تللی واکمنۍ بېرته د ځان کړي/ دوی به د مقابل لوری له قواوو نه د کوانګټرۍ بنار بېرته ونیسي/ خپل حق بیا لاس ته راوړل/ له لاسه ورکړې خاورې بېرته لاس ته راوړل/
收割，收获	لو کول/ ربیل (و یې ربیه) /
收割机	دربیلو ماشین/
收回	نتیجه دا شوه چې د هغه قرارداد یې راڅخه وګرځوله/ نوموړې اډه به د انګلستان څخه بېرته وګرځوي/ جرګه کولی شي چې خپله اجازه د دوو برخو غړو په اکثریت بېرته واخلي/ جرګه د حکومت نه خپل باور بېرته اخلي/
收获，得到	سړ کال د ممیزو د حاصلاتو حالت ډېر ښه دی/ هغه د کرلو ربیلو په کار کې له نورو بزګرو ګرندې دی/ په ټول هېواد کې د غنمو حاصلات ټولېږي/ د دغو مځکو څخه هر سړی حاصل اخلي او څه چې یې زړه وغواړي هغه پکې کرلی شي/ حاصلات اخستل شوي دي (په لاس راغلي،لاس ته راغلي،ترلاسه /ترګوتو شوي دي/
收获脱粒机	د ربیلو او پاکولو ماشینونه/
收集	کلکسیون/
收集，采集，收获	ټولول (ټولوي، ټول یې کړ)/ غونډول/
收集者，获得者，积蓄者	غونډوونکی/

收据，回执	رسید/
收看电视	آن که تلویزیون هم ولرو ، نه شوکولی چې تلویزیون نندارہ کړو/ د تلویزیون د لیدو پر مهال یې خپل مخ پټ کړی و/
收买	د رشوت په واسطه راضي کول/
收入	محصولات/(عایده / عایدات) /
收入来源	مدرک: زه یې له معاش نه بل مدرک نه لرم/ دا هغه اسعار دی چی دتجارتي مالونو د صادراتو او وارداتو د مدرک څخه ترګوتو کېږي/
收拾停当	هر څه یې ښه سمبال کړل/
收缩	د تسلیحاتي مسابقو لمنه تنګول/
收信人，收件人	مرسل الیه/ اخستونکی/
收益	له تجربو څخه په خپله ګټه کار اخیستل /
收音机，广播电台	راډیو (راډیوګاني)/
收银员	خزانه دار /
收支	عایدات او مصارف/
收支平衡	موږ د خپلو ملي عوایدو او مصارفو ترمنځ موازنه ساتلې ده/ په مالي عایداتو او مصارفو کې انډول او توازن برقرار شوی دی/
手	لاس(لاسونه) /
手臂，力量	مټ (مټان یا مټونه) /
